بسم الله الرحمن الرحیم

# سرلیکنه

## په افغانستان کې د ښوونې او روزنې اړتیا

د لوی الله(ج) اوامر او د اسلام د ستر پیغمبر حضرت محمد (ص) غوره لارښوونې په ډاګه کوي، چې ښوونه او روزنه له ټولو فنونو او مسلکونو سره د انسان لومړنی اړیکې نښلوي او په همدې توګه د ځان پېژندنې خورا مهمه مرحله هم پیل کېږي. که چېرې څوک د ښوونې او روزنې د نعمت نه بې برخې وي، نو هغه خپل ځان نه شي پېژندی او چې ځان ونه پېژني د جهان پېژندنې څخه خو بیخي بې برخې پاتې کېږي.

په دې کې شک نشته، چې لومړنۍ زده کړه انسان د مور د غېږ نه اخلي، خو کله چې یې په کرار کرار شعور وده کوي نورې زده کړې او پوهې ته اړتیا لري، علم او پوهه د هرې ټولنې د پر مختګ او بریالیتوب بنسټ جوړوي، ښوونه او روزنه ده، چې دیوې ټولنې د وګړو تر منځ د ښه او بد تفکیک را منځته کوي، همدغه ښوونه او روزنه ده، چې د دنیا ستر قوتونه وربانديې لوبې کوي او د خوشحالۍ او پر مختګ په بام یې خیژوي.

سالمه ښوونه او روزنه نه یوازې په عصري علومو، بلکې په دیني علومو کې هم انسان د لوړ سوچ (اند) او فکر خاوند کوي. د بدو او ناروا کارونو څخه یې منع کوي د نېک او ښه عمل لاره ورته په ګوته کوي.

افغانستان چې په تېرو څو لسیزو کې د هر ډول جنګونو ښکار شوی او د حکومت دارۍ ټول بنیادونه یې له بیخه ړنګ شوي ؤ اوس یې د نړیوالې ټولنې په مرسته څه نا څه ادارو په کار پیل کړی دی، خو د بده مرغه تر اوسه هم هغه څه چې لازم دي په سالمه توګه نه دي تر سره شوي، نور مسایل یې جدا بحث غواړي، خو د ښوونې او روزنې په برخه کې باید تر هرڅه زیات کار وشي، ځکه د هرې ټولنې او هر هېواد امن، پرمختګ او خوشحالي د علم او پوهې سره تړلې دي. که علم او پوهه نه وي سالمه او عصري ښوونه او روزنه نه وي، نو نه امن شته او نه پرمختګ.

سره د دې، چې په دې ورستیو کې په افغانستان کې د ښوونې او روزنې چارې ګړندۍ شوي د ښوونځیو شمېرې زیاتې شوي، شخصي ښوونځي هم په زیاتېدو دي، خو د زده کوونکو علمي کچه په هماغه اندازه نه ده کومه چې ورته ضروري او لازمه ده، د دې لپاره باید حکومت نور هم خپلې هلې ځلې ګړندۍ کړي او ښوونې او روزنې ته خاصه پاملرنه وکړي تر څو د افغانستان هر ماشوم د زده کړې په جامه سمبال او ځوانان یې د سالمې او ریښتنې پو[illegible] او [illegible]لم خاوندان شي، تر[illegible] د [illegible]هېواد [illegible] امنیت، پر[illegible]ختګ [illegible]و س[illegible]کالۍ کې م[illegible]م [illegible]ول [illegible]و[illegible]بوي [illegible] ه[illegible] [illegible]ني [illegible]نور[illegible] [illegible]د هېوادونو سره سیال شي.

اداره

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلوېښت حديثونه

## ليکونکی: سميع الله خاکسار

لمونځ په دين کې يو ډېر ستر مهم بدني عبادت دی، نو ځکه د لمانځه په حصه کې ډېر زيات حديثونه راغلي دي، چې د هغوی را ټولنه دلته گران کار دی، اما له هغوی څخه څلوېښت (۴۰) حديثونه په لاندې ډول دي.

① نبي اکرم ﷺ ارشاد مبارک دی، چې الله ﷻ زما په امت باندې د ټولو څيزونو څخه مخکې لومړی لمونځ فرض کړ او په قيامت کې په د ټولو څيزونو څخه مخکې لومړی د لمانځه حساب کتاب کېږي.

② د بنده او د شرک په منځ کې فرق يوازې لمونځ دی.

③ د اسلام نښه لمونځ دی څوک، چې زړه فارغ کړي او د وختونو او مستحباتو لحاظ ساتلو سره لمونځ وکړي هغه مؤمن دی.

④ هيڅ يو شی د ايمان او د لمانځه نه بهتر فرض کړ شوی نه دی که چېرې د دې نه بهتر بل شی فرض کړی شوي وي، نو فرښتو ته به يې د هغه حکم ورکړی وای فرښتې شپه او ورځ په رکوع او سجده کې دي.

⑤ لمونځ د دين ستنه ده.

⑥ لمونځ د شيطان مختور وي.

⑦ لمونځ د مؤمن نور دی.

⑧ لمونځ بهترين جهاد دی.

⑨ کله چې بنده لمونځ شروع کړي، نو الله ﷻ د هغه طرف ته پوره توجه فرمايي او کله چې لمونځ نه ليرې يې الله ﷻ هم ترې ليرې شي.

⑩ کله چې کوم آفت د آسمان نه نازلېږي، نو د جومات له آبادوونکو نه ليرې وي.

⑪ که چېرې لمونځ ادا کوونکی په څه وجهه دوزخ ته ولاړ شي نو اور يې د سجدې ځايونه نه سوځوي.

⑫ الله تعالی د سجدې ځايونه په اور حرام کړي دي.

⑬ د ټولو نه زيات ښه عمل د الله تعالی په نزد لمونځ دی، چې په وخت باندې ادا شي.

⑭ الله تعالی ته د بنده په ټولو حالانو کې د ټولو نه زيات ښه دا حالت دی، چې هغه په سجده کې ووينې، چې تندی يې پر ځمکه وي.

⑮ الله تعالی سره د بنده د ټولونه زيات نږدې والی په سجده کې وي.

⑯ د جنت کنجي لمونځ دی.

⑰ کله چې بنده د لمانځه لپاره ودرېږي، نو د جنت دروازې ورته خلاصې شي او د الله تعالی او دغه لمونځ ادا کوونکي ترمنځ پرده ليرې شي تر څو چې په ټوخي يا نور څه باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشغول نه شي.

⑱ د لمونځ درجه په دين کې داسې ده لکه د سر درجه په بدن کې.

⑲ لمونځ د زړه نور دی څوک چې زړه نوراني جوړول غواړي، څو په لمانځه سره دې جوړ کړي.

⑳ د ځمکې په کومه برخه د لمونځ په چې ذريعه الله تعالی ياد شوی وي هغه برخه د ځمکې په نورو حصو د ځمکې فخر کوي.

㉑ څوک چې دوه رکعت لمونځ وکړي د الله تعالی نه څه دعا وغواړي، نو الله تعالی به د ده دعا قبولوي، خو که زر وي يا د څه مصلحت له خاطره څه موده پس وي خو ضرور به يې قبلوي.

㉒ څوک چې يواځې والي کې دوه رکعته لمونځ وکړي، چې د الله تعالی او فرښتو نه بغير يې هيڅ څوک هم ونهويني، نو هغه ته به د دوزخ څخه د خلاصون اجازه نامه ورکړ شي.

㉓ څوک چې يو فرض لمونځ ادا کړي د الله تعالی په نزد د هغه يوه دعا قبوله شوه.

㉔ هغه څوک چې د پنځه وخت لمانځه ساتنه کوي د هغه رکوع، سجده، اودس او نور په ښه شان ادا کوي جنت د هغه لپاره واجب شو او دوزخ په هغه باندې حرام شو.

㉕ لمونځ د هر پرهېزګار قرباني ده.

㉖ مسلمان بنده کله، چې د پنځو لمونځونو ساتنه وکړي شيطان د هغه نه ويرېږي او کله چې هغه په لمونځونو کې بې پروايي وکړي، نو شيطان په هغه زړور شي د هغه په غلولو کې يې طمع پيدا شي.

㉗ د ټولو نه بهترين عمل په اول وخت کې لمونځ کول دي.

㉘ د الله تعالی په نزد د ټولو لمونځونو نه زيات خوښ په اول وخت کې لمونځ کول دي.

㉙ د ماسپښين د لمانځه ړومبي د څلورو رکعتو ثواب داسې دی لکه د تهجد د څلورو رکعتو.

㉚ د ټولو نه بهترين لمونځ د نيمې شپې لمونځ دی، خو د دې کوونکي ډېر کم دي.

㉛ کله چې بنده لمانځه ته ودرېږي، نو د الله تعالی رحمت هغه طرف ته متوجه شي.

㉜ د تهجد لمونځ ضرور کوئ، چې تهجد صالحانو طريقه ده او د الله تعالی د نزديکيت سبب دی تهجد د ګناهونو نه منع کوي او د خطاګانو د معاف کولو ذريعه ده او له دې سره بدن هم تندرست کېږي.

㉝ د آخرې شپې دوه رکعته لمونځ د ټولې دنيا څخه بهتر دی. رسول الله ﷺ وايي: که چېرې ماته د مشقت ويره نه وي، نو په امت به مې فرض کړی وای.

㉞ د الله تعالی خاص بندګان هغه دي، چې د شپې د خپل رب دپاره په سجده او په قيام کې وي.

㉟ د شپې مونځ د الله تعالی د شکر ذريعه ده.

㊱ ابوهريرة ﷺ وايي: چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل، چې د فرض مونځ نه پس غوره مونځ د شپې مونځ دی.

㊲ د لمانځه په باره کې د الله تعالی نه وويرېږئ د لمانځه په باره کې د الله تعالی نه وويرېږئ. د لمانځه په باره کې د الله تعالی نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويرېږئ.

۳۸ لمونځ ترک کول بنده کفر ته رسوي يو بل ځای ارشاد دی، چې د بنده او کفر وصل د لمانځه ترک دی، بل ځای ارشاد دی، چې فرق د مسلمان او کفر په منځ کې لمونځ دی.

۳۹ څوک چې دوه لمونځونه بغير د کوم عذر په يوه وخت قضا کړي هغه د گناهونو د دروازو څخه يوې دروازې ته ورسېد.

۴۰ په اسلام کې د هغه کس هيڅ حصه نشته، چې لمونځ نه ادا کوي او بې اودسه لمونځ نه کېږي. لمونځ د دين لپاره داسې دی لکه د سړي لپاره چې سر دی.

## غوره ويناوې

ليکوال: ثناء الله رحمتي

۱ کار هغه کوه، چې ستا په کې فايده وي او د هغه کار څخه ځان ساته، چې ستا په کې تاوان وي.

۲ گناه لږه کوه، چې مرگ در باندې اسان شي.

۳ هرڅوک چې تاته د خلکو راز وايي په دې پوه شه، چې ستا راز به نورو ته هم وايي.

۴ دوست ته د زړه حال وايه او دښمن ته لاپې.

۵ هوښيار هغه څوک دی، چې کار شروع کړي او انجام يې په ځان فرض وگڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يو بانډې چې له رسول الله (ص) نه پوښتنې کوي

## ليکوونکی: سيد شفيق الله رحيم زی

① غواړم چې دعا مې قبوله شي؟
ځواب: له حرامو ځانو ساته دعا به دې قبوله شي.
② غواړم چې روزي مې پراخه شي؟
ځواب: تل په اوداسه کې اوسه.
③ غواړم چې الله (ج) را باندې رحم وکړي؟
ځواب: د الله (ج) په مخلوق رحم کوه.
④ غواړم چې رسوا نه شم؟
ځواب: له زنا څخه ځان وساته.
⑤ غواړم چې لوی عالم شم؟
ځواب: تقوا غوره کړه لوی عالم به شې.
⑥ غواړم چې د الله (ج) تابعدار بنده شم؟
ځواب: فرايض مه پرېږده.
⑦ غواړم چې عزت مند شم؟
ځواب: خلکو ته لاس مه نيسه عزت مند به شې.
⑧ غواړم چې عادل شم؟
ځواب: څه چې ځان ته خوښوې نورته يې هم خوښوه.
⑨ غواړم چې ځواکمن شم؟
ځواب: په خدای (ج) باور او توکل کوه.
⑩ غواړم چې لوی سړی شم؟
ځواب: د خلکو سره مرسته کوه.
⑪ غواړم چې غني شم؟
ځواب: قناعت غوره کړه.
⑫ غواړم چې ايمان مې پوره شي؟
ځواب: اخلاق ښه کړه.
⑬ غواړم چې د قيامت په ورځ الله تعالی را څخه خوشحاله وي؟
ځواب: له جنابت څخه ځان پاک ساته.
⑭ له ټولو لويه ګناه څه ده؟
ځواب: بد اخلاق او کنجوسي ده.
⑮ له ټولو غټه نيکي کومه ده؟
ځواب: ښه اخلاق، عاجزي او صبر ده.
⑯ غواړم چې ګناه مې کمه شي؟
ځواب: استغفار ډېر وايه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رسول الله (ص) فرمايلي دي:

## را ټولونه: همت الله نايل

کله چې زما په امت دا پنځلس خويونه پيدا شي هغه وخت به د مصيبتونو نازلېدل پرې شروع شي.

① کله چې ملي شتمنۍ شصخي مال وګڼل شي.
② کله چې زکات جريمه وبلل شي.
③ کله چې امانت غنيمت وګڼل شي.
④ کله چې مېړه د خپلې ښځې پيروي پيل کړي.
⑤ کله چې د مور او پلار نافرماني پيل شي.
⑥ کله چې د ښېګڼې په مقابل کې بدي شروع شي.
⑦ زوی پر خپل پلار ظلم شروع کړي.
⑧ په جوماتونو کې چغې شروع شي.
⑨ د قوم نا اهل سړی مشر شي.
⑩ نشه يي توکو کار عام شي.
⑪ د ناوړه خلکو قدر پيل شي.
⑫ د وريښمو اغوستل پيل شي.
⑬ موسيقي آلات عام شي.
⑭ سندر غاړی عام شي.
⑮ په نېکو خلکو لعنت پيل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پوهانو ويناوې

راټولونه: عنايت الله افتخار او سباوون اتل

① هغه وکړي چې د هدف د تر لاسه کولو په لاره کې هر راز سربښندنې ته چمتو شي د خپلواک پالو له جملې څخه شمېرل کېږي. ( حضرت محمد (ص)

② ستا سو ستر دښمنان ستاسو ناوړه دوستان دي (عبد القادر جيلاني رحمه الله)

③ خپل او د کورنی ستاينه دې د خلکو په وړاندې مه بيانوئ. (لقمان حکيم صاحب)

④ دوست ته راز مه وايه کيداي شي سبا ستا دښمن شي. (لقمان حکيم صاحب)

⑤ آزادي په زور اخيستل کېږي ورکول کېږي نه. (علامه سيد جمال الدين افغان)

⑥ رېښتنی عالم د هرچا په زړه کې دوست او محبوب وي. (حضرت علی (رض)

⑦ بې د امتحانه د چا په دوستي باور مه کوئ. (امام شافعي رحمة الله)

⑧ د ښايسته ښځې په ليدو سترګې او د نېکې ښځې په ليدو زړه خوشحالېږي. (ابراهيم رحمه الله)

⑨ د هر ملت سرمايې د هغه ملت د ورځې بچيان دي. (منصور رحمه الله)

⑩ مطالعه د غم او پرېشانی غوره ملګری ده. (حضرت عمر (رض)

⑪ ښه دوست هغه دی، چې په سخته کې پکار شي. (سعدي رحمه الله)

⑫ د څراغ له وينا څخه ګټه واخلئ او دې ته مه ګورئ، چې څراغ د چا په لاس کې دی. (عائشه رضی الله عنها)

⑬ د ژبې خويونه د پښو له خويدو څخه خطرناک دي. (حضرت عثمان (رض)

⑭ د ايمان دښمن درواغ د عزت دښمن سوال د عقل دښمن غوسه او د دولت دښمن بدنيتي ده. (حضرت علی (رض)

(c) ketabton.com: The Digital Library



⑮ څوک چې ځان تر نورو غوره بولي همدي ته غرور وايي. (سفيان ثوري رحمه الله)

⑯ د بدو ملګرو فاسدو دوستانو او د ګناه او فساد له ځايونو څخه لرې ګرځئ. (فتحي يکن رحمه الله)

⑰ رینښتنی ورور او دوست مو هغه دی، چې درته نصحیت کوي. (حسین (رض)

⑱ چې چېرته عزت خوندي نه وي له هغه ځای ځان وساتئ. (هجوری رحمه الله)

⑲ غوره نېکي د خپلو دوستانو د عزت ساتنه ده. (حسن بصري رحمه الله)

⑳ د هغه چا دوستان کم وي، چې په ښکاره يو څه او په پټ بل څه کوي. (معاذ الرازي رحمه الله)

㉑ د بې عقله پلاس سوال او ځواب لېږل خپلې پښې په تبر وهل دي. (سليمان عليه السلام)

㉒ که ښه شهرت او د علم زده کړه غواړئ، نو د ناپوهانو او بدعملو دوستانو مجلس ته نږدې والی مه کوئ. (ادريس عليه السلام)

㉓ د خواهش او نفس منوونکو دوستانو ناسته، پاسته او مجادله مه کوئ او مه يې وينا ته غوږ نيسئ. (ابن سيرين رحمه الله)

㉔ کله چې شخص په خپله د ځان ستاينه کوي کيدی شي عزت يې له منځه ولاړ شي. (امام مالک رحمه الله)

㉕ د پټ منافقت څخه ښکاره دښمني غوره ده. (جعفر صادق رحمه الله)


(c) ketabton.com: The Digital Library



# ادبي غلا څنګه او څه ته وايي؟

عاشق الله احساس

د هر څۀ دمخه بايد د غلا او غل په معنى او مفهوم يې ښه رڼا واچو دا خو يو څرګند حقيقت دى، چې ټول وربانديې ښه پوهېږي، خو ادبي غل دخپل ځان د شهرت ميندلو په خاطر دغه ناوړه کړنه تر سره کوي، خو زه حيران دا سې سپين سترګې او ناپوهه غل ته يم، چې ادبي غلا کوي، خو په دې نه پوهېږي، چې دا کړنه هيڅ کله پټه نه پاتې کېږي او حتماً يوه ورځ د رسوايي تر داره پورې رسېږي، خو سوال دا پيدا کېږي، چې آيا د نورو غلو غوندې ادبي غل جزا ليدى شي او کنه او يا ادبي غلا جرم ګڼل کېږي که نه؟ په دې اړه ځوان ژررناليست او فرهنګپال محمد شعيب (غروال) دا سې وايي، ادبي غلا په شعوري او اګاهانه ډول ديو چا تخليق يا تحقيقي پديده په خپل نامه کټ مټ او يا په لږو ډېر توپير چاپ کړي ادبي غلا بيا نور ډولونه هم لري، خو يو ډول يې توارد هم کيدى شي، چې په ناپوهى يا نا خبرى دوه ادبي



تخليقونه يو ډول يا ورته خپاره شي، نودا چې ادبي غلا د ادبيانو په قانون او فلسفه کې جرم ګڼل کېږي، نو زه به درته د ادبي غلا ديو غل څرګنداونه پټېدونکى مثال در وا ښايم که تا سې غواړى، چې پرې ښه پوهه شى، نو د لوپټه مجلې ۱۳۹۰ کال دربيمه ګڼه احو اتم مخ، چې د ګڼې د سر پاڼې عنوان ښځه او ټولنه تر سرليک لاندې ليکنه ده، چې دغه ليکنه او شعر د شاعر عاشق الله (احساس) دى د ۱۳۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال په لومړو کې د لوپټې مجلې ته د خپاروي په موخه په داسې وخت، چې انټرنټي اسانتیاوو ته یې لاس رسي نه درلود په قلمي ډول یې لیکلې وو، چې خپل نوم او تخلص یې د لیکنې پر یو اړخ لیکلې وو د لوپټې اداري ته یې ورسوي، ځکه چې د لوپټه مجلې خپرونکې ټولې فرهنګپالې خویندې وي، نو په دې اساس د ګڼې په سر پاڼه کې لیکل شوې شمېرې ته ټلیفون وکه، چې همدغه شمېره د همدې ګڼې دیو فرهنګپال سره وه، چې ځوابي پیغام یې ورکړ ورته یې وویل، چې څه ویل لرې لیکوونکې ورته د خپلې لیکنې په اړه هدایت وغوښت، چې څنګه خپله لیکنه ستاسې تر اداري در ورسوم هغه ورته په ځواب کې وویل، چې تاسې خپله لیکنه په یو سر بند پاکټ کې واچوئ او د اکمل کتاب پلورنځي ته یې ورکړئ او هغه به یې کریاب ته ورسوي ستاسې لیکنه حتماً زموږ تر اداري را رسېږي. لیکوونکې په همدغه هدایت عمل وکړ د څه وخت په تېرېدو وروسته د ۱۳۹۰ هـ ش کال دریمه ګڼه د چاپه را ووتله، خو لیکوونکې ته په لاس نه وه ورغلې او نه یې د خپلې لیکنې په لټه کې وو، چې ایا زما لیکنه په دغه ګڼه کې خپره شوې که نه، خو دیو کال تېرېدو وروسته په ۱۳۹۱ هـ ش کال د کونړ سیند په پنځه کلنه مشاعره کې دغه ګڼه په لاس ورغله او د ډېرې دقیقې مطالعې پر اساس یې په خپله لیکنه او شعر سترګې ولګیدې، چې داسې یو چا ورباندې خپل د لیکوالی نوم لیکلی، چې ستا په هیڅکله ورباندې باور ونه شي، چې دادی ادبي غله بریښنا شیرزی وی، چې خپله د مجلې مسوله مدیره هم ده په تېرو ګڼو کې یې هم داسې په زړه پورې لیکنې کړې دي شاید هغه هم داسې وي، چې د خپل شهرت مندلو په خاطر یې ډېر هنر زده کړې. د دغه لیکوونکې څو بیت شعر چې د خپلې لیکنې تر څنګ یې د لوپټې پلو ته ډالۍ کړې یو څرګند حقیقت دی، خو د ادبي غلا په وجهه یې د تخلص دوهم توری دریم او دریم توری یې دوهم لیکلی، چې څوک تري مانا او مفهوم وانخلي او پرې پوهه نه شي، چې ادبي غلا یې کړې، چې په اصل کې تخلص احساس دی د شاعر د شعر مطلعه څه داسې ده.

نن څومره خوند کړي چې پر سر دې د حیا لوپټه
د پښتنو پېغلو کلتور دی د ښکلا لوپټه
چې رقیبان مې ورته بیا ګوته په خوله پاتې شي
خاونده بیا مې کړې سر شاره د غزا لوپټه
خدایه ملالۍ غوندې پېغلې مو بیا هم پیدا کړې
چې ملالې د دښمن پر ضد ترلې وه له ملا لوپټه
د پښتنې مینې احساس په کې څرګند ښکارېده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره مې خوښه شوه له ورایه په رښتیا لوپټه

نو گرانو لوستونکو ادبي غله او غلا خو موښه وپېژنده، خو چې تاسې خدای مه کړه کله داسې ونه کړئ، ځکه د غلا په مفهوم خو پوهه یاست او بیا ادبي غلا د ادب ښکلا زیانمنوي او هغه څوک، چې ښکلا زیانمنوي نه یوازې دا چې شاعر او لیکوال نه دی، بلکې د شاعر او لیکوال پر ضد یو څوک دی او دا هم ځکه چې شاعري او لیکوالي د ادب او د ښکلا د پنځولو یوه رنگینه ده.

## عاشق الله احساس

چاته شي درد چاته دوا شي مینه
چاته پرهر چاته وفا شي مینه
څوک د منزل تر حده ورسوي
د چا نیمگړې بې پروا شي مینه
چاته د ټول ژوندون خوښي ورکوي
چاته په برخه کې سزا شي مینه
بیا د غزل تر مnارونو رسي
پټ چې په زړونو کې پیدا شي مینه
څوک د کعبې غوندې طواف پرې کوي
چاته په شرعه ناروا شي مینه
چې د پښتو احساس شعور ولري
هله کامیابه شي رښتیا شي مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پوهنتون لنډه کیسه

## لیکونکی: ارین ننګیال

کله کله انسان ته په ناخود آګاه ډول د را روانې پېښې د پېښېدو الهام کېږي. په افغانستان کې خو دا ډول احساس هر سړي ته هرې ورځ پیدا کېږي، خو زه په دې نه پوهېږم، چې د کوم نېک عمل په بدل کې الله تعالی را سره دا ډول احسان وکړ. د کابل پوهنتون د شپې پوهنځي د انګلیسي ادبیاتو په دریم سمستر کې مې تحصیل کاو په ډېره مینه به پوهنتون ته تلم، خو ای کاش چې تر پایه مې رسولی وای.

په مني کې یا پوهنتون ته ورتګ څه اسانه کار نه و، پس د زړه وینې خوړل وه د ماښام شپږ بجې به رخصت شو، څو چې به کورنو ته رسېدو اوه نیمې بجې یا اته بجې په وې.

که له یو بخوا د نړۍ ټول فوځیان د افغانستان د کراری لپاره راغلي ول، خو خلک ان په خپلو کورونو کې هم خوندي نه ول. آیا په داسې شرایطو کې تر نیمې شپې پورې په ښار او کوڅو کې د یو جیني ګرځېدل د وېرې خبر نه وه؟ څو چې به کورته رسېدم نه به زما په څیره کې سرخي وه او نه به د کور په غړو کې اخیر تعلیم مې کاوه. که څه هم چې موږ د ناوخته رسېدو ستونزو یو څه حل کړې وه، خو افغانستان نه هم د ټګانو ښار جوړ دی سړی حیران پاتې کېږي، چې باور وکړي د هر سیمې محصلینو په ډلییز ډول موټرونه په کرایې نیولي ول. سهار به یې پوهنتون ته رسول او ماښام به یې بېرته کورونو ته بېول، خو داسې به ډېر کېدل، چې موږ به په تمع ودرولي ښغمه ول سبا به یې آنې بانې کولې.

یو ماښام د تېر په څېر تر ناوخته چې ځینې محصلینو د لارې د بندېدو خبرې کولې. کابل کې چې یو عادي مامور هم چېرته ځي سړکونه ورته پوره یو ساعت بندوي. کله چې د موټر له راتګ نه ناهیلی شولو: نو څلورو جنکو کورونه مو په یوه لارې پراته وه یو ټکسي موټر په کرایه کړ او کورونو ته روان شولو.

له عمومي سړک نه زموږ کورته د پنځو پنځلس دقیقې لاره وه. موټر نه څکه را ښکته شوم، چې زموږ د هم صنفي کور د یو څه لیرې و د دې لپاره خو یې ان له سترګو اوښکې راغلې، چې له کلي نه یې مېلمانه راغلي ول هغه له خپلو خپلوانو پټه پوهنتون ته راتله. زړه نا زړه موټر نه ښکته شوم آسمان خړ و وربځو پوښلی و سخته تیاره وه. یو یو څاڅکی باران هم په وارېدو و د سړک د غاړې هټې هم تړل شوې وې کړندۍ روانه وم کله به مې له وېرې نه شاته کتل او کله مخ ته نه مې غوښتل چې د خپلو پښو تراپا (اواز) واورم په سړک یو یو موټر هم تېرېدو، خو زه د کورونو تر څنګ تروږمۍ ته روانه وم ماوې چې چاته ښکاره نه شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کابل د موټروالا یو بد عادت دادی، چې کله چې کومه جینۍ د سړک په غاړه روانه او یا ولاړه وي، نو هر موټروان په خپل وار موټر دروي دا کار له سړیتوب نه نه کوي، بلکې دا د هغوی سپک نظر وي نه پوهېږم چې په کومو سوچونو کې روانه وم، چې یو وړکی موټر مې له څنګه نه په ډېرې تیزۍ سره تیر شو، خو وړاندې یې سخت بریک وواهه او بېرته شاته راغی له ویرې ځای پر ځای ودرېدم. موټر زما تر څنګ ودرېده څلور هلکان ترې په بېړه را ښکته شول او زما خواته یې را منډې کړې پښې مې سستې شوې په سترګو مې تیاره شوه او په ځمکه ولوېدم، څو چې په ځان خبرېدم د بوجۍ په څېر څه یې را په سر کړه او موټر ته یې پورته کړم په ډېرې سختۍ مې ساه اخیسته موټر ګړندی روان شو هغوی په تلیفون کې څه ویل، خو زه داسې وم لکه خوب چې وینم غږ مې نه پورته کېده، ژبه مې په ستوني کې وچه وه، لاسونه او پښې مې بې دمه ول همدا چې موټر ودرېده او د کور ګراج ور خلاص شو زما سترګې هم پټې شوې وې.

چې کله مې سترګې وغړېدې په سپین چت کې را ته ګلان ښکاره شول په بېړه له ځایه پورته شوم مخ ته لاته رنګ راته یو تور زلمی چې په لاس کې یې د معدني اوبو بوتل نیولی و ولاړ و سر مې نه شو ټینګولی ګنګسه وم. زلمي سره چې سترګه په سترګه شوم مسکی شو مخامخ را ته کېناست څنګه یې نغمې؟

له دې خبرې سره نوره هم وارخطا شوم په ریږدېدلو لاسونو له مخ نه پیکې لرې کړ ما خبرې ته خوله جوړوله خو ژبه مې په خوله کې نه ګرځېده وچه کلکه وه. همدا چې هلک زما ټول مخ ولید له غمبرو یې کلکه کړم لدې سره مې په چغو شروع وکړه د زلمي له ودرېدو سره چې له پښو را کلک کړ بوټونه مې ورته ښکل کړه زارۍ مې ورته وکړه خدای ته وګوره وروړ جانه ما پرېږده عذر درته کوم وروجانه پښې دې ښکلوم ته زما مشر وروریې.

ما زارۍ کولې او زلمي رډې رډې را کتل یو دم یې چیغه کړه. بس بس چې ما ته تلیفون دی غږ دې وانه ورم کنه لدې سره مې کوښښ کاو چې د ژړا غږ مې پورته نه شي خو هیڅ نه کېده یو وار بیا د زلمي چیغه پورته شوه د سپي لورې غلې شه تلیفون یې بند کړ او ربوز یې را وړاندې کړ او په کرار یې وویل خوا کې مې ده غلې شه پوشوې؟ له دې سره مې سلګۍ په ستوني کې خیره شوې د ښه په مانا مې سر ښکته کړ، کله چې زما د غلې کېدو ډاډه شو بیا یې زنګ وواهه له خبرو یې داسې پوشوم چې د خور غاښ یې په درد شوی و له ده نه یې درمل وغوښتل د خور په ناروغۍ د زلمي په څېره د خواشینۍ نښو په ښکاره کېدو مې په سلګو سلګو ورته وویل. خور دې په کور کې غاښ درده او ستا دلته ورته وینه وچه شوه که زما په څېر څوک ستا خور وتښتوي یو خور د خپل ورونه عزت غواړي آیا ته خپله خور بې عزته کوې ستا خور زما دعزت د ژغورلو لپاره تا ته تلیفون وکړ خو ته نه پوهېږې که ته دې په خپل خور دومره درد ېږي، نو زه هم تا ته وروړ وایم زلمي غلی ولاړ او هیڅ یې نه ویل وچلی یې په ګوتو ونیو ناڅاپه یې د دل اغا چیغې پیل کړې د زلمي له نارو سره زما ژړا په سلګو بدله شوه وجود مې په خپل اختیار نه و ټوله رپېدم دل اغا په منډه خوني ته را ننوت زلمي په قهر ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل. موټر چالان کړه خو دل آغا کله ما او کله زلمي ته کتل چې دې وخت کې يې بيا پرې غږ وکړ دلېوني بچيه تاته وايم دل آغا په منډه له خونې ووت زلمی هلک زما کتابونه او دستکول را پورته کړل زه يې له لاسه ونيولم ژر مې ترې لاس را کش کړ او خپله پورته شوم. زلمی مخکې او زه وروسته شوم دباندې کوځې کې کرولا موټر ولاړ و دوه کسه مخکې زه او زلمی شاته سيټ کې کېناستلو او موټر حرکت وکړ زلمی په کراره وويل: کور مو چېرته دی؟ غوښتل يې چې ځواب ورکړم خو خبره مې له خولې نه راووته په قهر يې راته وويل: تاته وايم کور دې چېرته دی؟ په بنده ژبه مې ورته وويل: ده ده ده غه غه خوانه يم غفور نديم ښوښونځي څه څنګ ته. زلمی په خندا وويل ښه ته فربيا زموږ کاوندی يې له لرې شيبې چوپتيا وروسته موټر و درېده همدا ځای دی په بېړه مې شاوخوا وکتل چې خپل کور مې تر سترګو شو ورسره زړه مې ډک ډک کېده ماوې چې په چغو چغو وژاړم.

زلمی ردې ردې را وکتل سترګې سرې سرې وې د لومړي ځل لپاره مې ورته خيره لږ څه سمه ولېده غوښتل مې چې د موټر نه ښکته شم، چې نا ځاپه له لاسه ونيولم په کرار يې درته وويل. ته پوهېږې چې ستا د سرو وېښتو په اندازه مې مرګونه کړي او تا غونډې جينکو باندې مې ځوځو شپې تېرې کړې خو تر اوسه يې په هيڅا زړه ندی درېدلی خو تا راته ورور وويل ستا په خير زه هم يوه ګلالی خور لرم تا خو ولېدل چې د غابښ درد چې هم پرې نه لورېږي ځکه مې ؟؟؟ روغه خپل کورته راوستې خو که چاته دې څه ويل و بيا نو خپله خور هم نه پېژنم ځه په مخ دې ښه ژر له موټر نه ښکته شوم خو له ياده مې ووتل چې مننه ترې وکړم...... (پاتې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوه، درې، څلور او پنځه

راټولونه: همت الله نایل

① دوه کسان د دین او وطن دښمنان دي.
[۱] هغه عابد چې علم نه لري.
[۲] هغه پاچا چې صبر او زغم نه لري.
② دوه ډېر بد خویونه.
[۱] ډېره بخلي.
[۲] زیات بې زړه توب.
③ دوه وږي هیڅکله نه مړېږي.
[۱] د علم وږی.
[۲] د دنیا وږی.
④ دوه ناوړه اعمال دي.
[۱] د الله (ج) سره شریک نیول.
[۲] مسلمان ته زیان رسول.
⑤ دوه غوره خویونه دي.
[۱] په الله (ج) باندې ایمان لرل.
[۲] مسلمان ته گټه رسول.
[۱] درې هلاکوونکي شیزونه.
① خواهش.
③ بخل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



③ ځان لوړوالی.

[۲] درې شیان نه لري.

① د وربځې سوری.

② ناوړه وینا.

③ چاپلوسي.

[۳] درې څیزونه سړی کمزوری کوي.

① بې روزګاري.

② فسق.

③ اړتیا.

[۴] د انسان ښکلا په دریو څیزونو کې وي.

① علم.

② مینه.

③ آزادي

[۵] دریو سزا انسان ته ورکول کېږي.

① د مور پلار خفه کول.

② په خلکو جبر کول.

③ د نیکي په بدل کې بدي کول.

[٦] درې کارونه مه کوئ.

① د بخیل نه قرض.

② د جاسوس دوستي.

③ د ښځې په خبره باور.

⑦ درې شیان یو ځل پیدا کېږي.

① ځواني.

② ښایست.

③ مور او پلار.

⑧ د دریو احترام کوئ.

① د اسلام قانون.

② د استاد.

③ د مور او پلار.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹ درې شيان خوښه ويئ.
① شفقت.
② خلوص.
③ ساده ګي.
۱۰ درې له ځان چمتو ساته.
① غم.
② زوال.
③ مرګ
۱۱ درې ويناوې په زړه پورې دي.
① ورېږې ته دوډۍ ورکول.
② بربنډ ته جامې وراغوستل.
③ قرآنکريم لوستل.
۱۲ درې له درېو بې برخې دي.
① بېړه کوونکی له کاميابۍ.
② غوسه کوونکی له سم اقدام څخه.
③ دروغجن له عزت څخه.
۱ انسان ژوند څلور پورې وي.
① علم.
② حلم.
③ عفت.
④ عدالت.
۲ څلور کم مه ګڼه.
① درد.
② ناداري.
③ اور.
④ دښمني.
۳ د غور ژوند څلور نښې وي.
① ښه وينا.
② ښه کړنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



③ ښه نیت.
④ ښه مجلس.
[۴] د ایمان علامې څلور وي.
① تقوا.
② حیاء.
③ شکر.
④ صبر.
[۵] څلور شیان په انسان کې غوره دي.
① حلم.
② علم.
③ مهرباني.
④ ښه خویي.
[٦] څلور څیزونه سخت دي.
① عفوه د غوسې په وخت کې.
② سخاوت د ناداري په وخت کې.
③ ځان ساتل د خلوت په وخت کې.
④ حق خبره د ویرې په وخت کې.
[۷] څلور کسان د څلورو قدر کوي.
① بوډا د ځوان.
② ناروغ د روغ.
③ غم د بې غم.
④ ژوندی د مړي
[۸] د ایمان ننښې څلور دي.
① صبر.
② یقین.
③ عدل.
④ جهاد.
[۹] په څلورو بارو مه کوه.
① په ښځې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



② په مال.
③ خوراک.
④ هغه چې عمل پرې نه کوي.
[۱] پنځه په پنځو کې دي.
① دليل په قرآن کې.
② درناوي په قناعت کې.
③ ويره د شپې په لمانځه کې.
④ بډايي په قناعت کې.
⑤ ذلت په ګناه.
[۲] په پنځه شيانو کې بېړه ښه ده.
① د ميلمه مخې ته د خوړو اېښودو کې.
② د مړي په تدفين او تجهيز کې.
③ د بالغې نجلۍ په نکاح کې.
④ د قرض په ورکولو کې.
⑤ له ګناه څخه په توبه ايستلو کې.
[۳] پنځه خويونه له سپي څخه ياد کړئ.
① که وږی وي هم د خپل څښتن ور نه پرېږدي.
② ټوله شپه د خپل مالک ساتنه کوي.
③ څومره چې ووهې خپل در نه پرېږدي.
④ ځان له استوګنځی نه جوړوي.
⑤ د دولت او شتو هيڅ فکر ورسره نه وي.
[۴] د زړه درملنه په پنځو کې ده.
① د قرآنکريم په تلاوت کې.
② له حرام مال څخه پرهيز.
③ تهجد لمونځ کې.
④ په سپيدو داغ کې دعا غوښتل.
⑤ د علماؤ سره کېناستلو کې.
[۵] د پنځو دوستانو ځان وساتئ.
① بې عقله دوست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



② درواغجن دوست.
③ بخیل دوست.
④ فاسق دوست.
⑤ ډارن دوست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مامور صاحب يم (طنز)

ژباړونکی: طارق (کريمزی)


د دولتي د فترونو څخه په يوه دفتر کې کار کوم څه وخت، چې د وظيفې څخه رخصت شم د معمول سره سم د هغې خلطې سره، چې په جيب کې مې وي د نورو مامورينو په څير، چې هره ورځ رخصت شي د شپې لپاره د غذا اخيستلو په لټه کې سرګردانه ګرځي زه هم هره ورځ د دوی په څير مصروف ووم.

سودا خرڅوونکی هغه سودا، چې ښه او تازه وي خرڅوي او هغه څه، چې د دوی څخه بېکاره او څوک يې نه اخلي په ټيټ پوړو دولتي مامورينو خرڅوي او هغوی ته يې ساتلي وي.

يو سودا خرڅونکی بل ته وويل: واه هلکه ! دغه پاتې شوی مال لکه چې نه خرڅوې؟
بل ورته په ځواب کې وويل: ته هم عجيبه سړی يې ! ښه وينې چې دا سودا بل څوک نه اخلي فقط دولتي مامورين يې اخلي او بس.

کله چې رخصت شي ټول د سودا اخيستلو لپاره راشي ټول سودا خرڅوونکي يودم بازار ګرم کړي او چيغې جوړې کړي: واخله مامورجانه، واخله کچالو، يو سه کچالو واه واه دغه پياز وګوره څومره ښايسته دي او د ځانه سره غلی ووايي، چې صرف بې وجدانه چينجو خوړلي دي او بيا په زوره چيغې کړي: بهترين پياز، پالک، کچالو، ګندنه د مامور صاحبانو لپاره ليلام ژر کوه، چې خلاصېږي. هله ژر کوه ليلام دي.
خلاصه دا چې په چيغو يې راته سر په درد کړ ولاړم، چې يو کيلو کچالو کور ته يوسم، چې زه او زما بچيان يې ښه په مزه مزه وخورو.

ومې ويل: سلام کچالو جانه ! کچالو هيڅ هم ونه ويل. د ځان سره مې وويل، دې مغروره کچالو ته ګوره، چې د دولتي مامورينو سلام هم نه اخلي نه پوهېږم چې ولې؟ په دې خبرو کچالو په قهه قهه سره وخندل او يې ويل: دې مامورک ته ګوره په جيب کې يې د پيسو درک



نشته او څومره اوچت پرواز کوي. ماته يې په غوسې سره کوښښ وکړه، چې د خپلې شړې، سره سمې پښې وغزوې ته ښه پوهېږې، چې زما نرخ ورځ تر بلې اوچتېږي او ته هماغه

ماموړ ک يې ژر مې د سترګو څخه پناه شه.

د پيـازو خواتـه ورنـژدې شـوم ومـې ويـل: سلام پياز ماما ! د خولې نه يې يو لفظ هم ونه وته د ځان سره مې غلې غونډې وويل: دا هم د کچالو خان په څير مغرور شو.



پيـاز پـه جـواب کـې راتـه ويـل: اوس زه پـه داسې ځای کې يم، چې ستا پـه شـان مـامورين په ما پسې نه شي رسيدلی. اوس زه د وزيرانو، زورلرونکو او مالدارانو سره يم او زما څخه پرته هيڅ ډوډۍ نه خوري.

مـامور جانـه ! سـتا د دې ليلامـې کرتـۍ، سوری يخن قاق او شليدلو بوټانو ځار شم. زما نور وخت مه ضايع کوه هغه وخت تېر شو، چې د فقيرانو خوراک به ووم. په ډېره نا اميدۍ سره د پياز ماما څخه تېر شوم داسې نه چې ومې نه وهې.

د لوبيا تره خواته ورنژدې شوم. لوبيا تره سلام زړه مې ستا ډېر ليوالـه دی. لوبيـا تـره وخندل او ويې ويل: هی هی بېچاره مامور جانـه ! پـه دوه زره افغـانی معـاش بانـدې څـه غـواړې وکـړې د کـور کرايـه او کـه د تـګ او راتګ د موټر کرايه، او که د بچو د مريضی د دوا پسې او که وچه ډوډۍ پرې اخلې. ځه لاړ شه او زما د اخيستلو هوا دې د سر نه کوزه کړه دا داسې ده لکه چې غواړې په دې معاش يو کروزين موټر غواړې واخلې او يا پرې د وزير اکبرخان په مينه کې يو کور واخلې. ډېر خجالته شوم رنګ مې تګ سور شو او له ځان سره مې وويل، چې والله دا هم رښتيا وايي.

د نخودو پر خوا ولاړم ومې ويل: نخوا اکا سلامونه: ډېره موده وشوه، چې سترګې مې ستا لپاره انتظار کوي زړه مې در پسې سم ټوپونه وهي، چې کله به وي چې تا په غوښه کې واچوم او يوه ښه قورمه ورنه جوړه کړم او بيا يې ښه په مزه مزه وخورم اوس دا راته ووايه، چې له ما سره کور ته ځې که نه؟

ويې خندل او ويې وويل: وه مامور وراره ! ستا د دې وچو شونډو نه ځار شم ماته خجالت راځي، چې له تا سره خبرې کوم اوس زما دوستي له هغه چا سره ده، چې په کروزين او بنز کې ګرځي. څه وخت چې زه د دې سره کور ته ولاړ شم زما لپاره هيڅ ځای نه وي هلته زما ډېر دوستان نور هم وي ورځ مو اختر او شپه مو برات وي په ډېره سختۍ سره په يو کنج کې ځای ونيسم او پروت يمه مېله ښه ګرمه وي. او څه وخت چې ستا په شان د مامور او يا غريب کور ته لاړ شم ډېر ويرېږم، ځکه چې ټول اولادونه يې د وږو لېوانو په څير خولې وازې کړي، تردې چې د سترتيا د ليرې کولو لپاره مې هم نه پرېږدي او پرته د ويـزې او يا پاسپورټ څخه مې هد يرې ته وليږي د خانانو او زورلرونکو په کور خو يو څه پاتې يم تر څو

(c) ketabton.com: The Digital Library




چې زما نوبت را رسېږي يو څه موده تېره شوي وي. د لوبيا اکا څخه هم نا اميده شوم.

او لاړم چې د ماهي غوښې، چرګانو، غوايي او پسه د غوښو او تازه مېوې د حال احوال پوښتنه وکړم. بريالى نه شوم، چې خواته يې ور نږدې هم شم، ځکه چې د رنګارنګ موټرو قطارونه پرې لګېدلي ول.

د زړه د تسلي لپاره مې وويل: واه بې چاره ماموره ولې نه پوهېږې، چې دا ټولې مېوې ترشې او دا غوښې خامې دي ولې دې خپل وخت ضايع کوې په بل طرف ولې نه ځې. فوراً هغمه منطقه مې پرېښوده د بازار په اخر سر کې د ټېپر تربور (شغلم) خواته ورغلم او مې او مې وويل: سلامونه تربورجانه! ټېپر د خندا نه په ډکه خوله وويل: و اعليکم مامور صيب په خير راغلې.

نن زه ښه متوجه ووم، چې ته کوم کوم ځاى ته لاړې ډېر اوچتو سوچونو باندې سرګردانه وګرځېدې، خو کومه مثبته نتيجه دې تر لاس را نه وړه. زما او ستا دوستي ډېره ژوره او



پخوانى ده، ځکه چې ستا پلار او زما پلار خپلو کې د تره زامن ول، نو بايد دې باريکى ته ځير شې که زه چېرته د نورو په څير د مالدارو او سرمايه دارو په خدمت کې شم، نو خوار او بېچاره مامورين به څه کوي او څه به خوري.

آفرين او بيا هم آفرين په ما چې د کروزنيونو سورلى خوښ نه لرم. زه خو غواړم چې فقط د ټيټ پوړو دولتي مامورينو په خدمت کې ووسم، چې مامورين او د هغوى بچيان مې په غير د ويزې او پاسپورټ څخه خپلو خيټو ته کوز کړي او دعا راته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څو شيبې په خندا کې

## ليکونکی: شاهد الله شاهد

① استاد يو شاګرد ته وويل، که تا ته وويل شي، چې د ماشومانو لپاره څه ښه کار وکړي ته به څه وکړې؟

شاګرد: زه به ټول مکتبونه بند کړم.

② ډاکټر ديو ماشوم نه پوښتنه وکړه، چې ستا په خېټه کې کله درد وي، ماشوم ورته وويل، ډاکټر صاحب کله چې زه مکتب ته ځم.

③ يو مولوي زوی ته ويل، بچی سحر پاڅېدو کې ډېرې فايدې دي، مثلاً چې کوم مرغان سحر وختي پاڅي هغوی ته د خوراک لپاره چيغې او ملخان زيات پيدا کېږي.

زوی: کوم ملخان او چنجي چې سحر وختي پاڅي د هغوی د سحر وختي پاڅېدو دا سزا ده.

④ په يو کور کې د ښځې او خاوند جنګ و. خاوند ځان د نورو وهلو نه د بچ کېدو لپاره د کټ لاندې ننوت. ښځې ورته وويل: راځه د کټ لاندې ولې ننوتې. خاوند يې ورته د هغه ځايه په مينه او په نره ځواب ورکړو، چې دا زما خپل کور دی، چې چېرته مې زړه غواړي هم هلته به يم.

⑤ پلار (خپل زوی ته) زويه زه تا د شرارتي خلکو دصحبت نه لرې ساتل غواړم.

زوی: نو د دې په وجهه خو ځکه زه مکتب ته نه ځم.

⑥ يو سړي کونډه ښځه کړې وه، چې د دې نه مخکې يې درې خاوندان مړ شوي وو. يوه ورځ دغه سړی ډېر سخت ناجوړه و. دهغه ښځه يې سرته ناسته وه او ژړل يې که ته لاړې نو ما به چا ته پرېږدې؟

هغه سړي ورته وويل: پنځم احمق ته.

⑦ ساده سړي يوه لاروي ښځه پوښتنه وکړه دا سرک چېرته تللی دی؟ هغه ورته وويل: دا سرک روغتون ته تللی دی. ساده سړي وويل: ولې دا سرک مريض دی.

⑧ يوه ورځ ملا اودس کاوه اوبه خلاصې شوې او يوه پښه يې وچه پاتې شوه، چې لمونځ يې کاوه په يوه پښه ولاړ و. خلکو ورته وويل: دا ولې؟ هغه وويل: دا يوه پښه مې بې اودسه ده.

⑨ ديوې ښځې د خاوند نوم رحمت الله و، خو هغې به د شرمه د خاوند نوم نه شو اخيستی. هره ورځ به هغې لمونځ کاوه، نو د السلام عليکم و رحمت الله په ځای به يې دا ويل (السلام عليکم ای د وړو پلاره)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانانو پخوانو او اوسنو حالاتو ته لنډه کتنه

پروفیسر ډاکټر ګل جانان ظریف (فرانکفورت ام ماین)

د پښتنو/افغانانو پخواني او اوسني حالات:

① د افغانانو اوسېدځای او د واکمنۍ پولې.

سرلیک ښکاره کوي، چې دغه ډېره پراخه موضوع ده او خورا زیاتې څېړنې او بحث غواړي، چې په ارزي. مګر دلته په ځنو لنډو مثالونو بسنه او اکتفاء کېږي. د افغانانو/پښتنو د اوسېدځي او د واکمنۍ پولو د تاریخ په اوږدو کې زیات تغیرونه او بدلونونه لیدلي دي. ځنې وختونه یې پولې په ختیز کښې سیند خوا او کله ګنګا ته رسیدلې او په لویدیز کښې کله د پارس خلیج او کله هم د مدترانې او خچنې یا توري بحيري غاړو او کله د لیبیا، اېتوپیا، حبشې ځنډو، مېرو او د دنیوب غاړو ته. په شمال کښې کله کش یا کس غر، سیر دریا او د ارال او سپینې بحیرې پورې خواوې وې او جنوب لورې ته یې لوی خوږ وو، لکه د هېتېتپانو، کسپانو، ساکو، لودیانو، غوریانو، هخامنشیانو (هه ښه منشپانو) پارتیانو او نورو په وختونو کې.

د احمد شاه بابا د واکمنۍ په وخت کې د افغانستان پولې په شرق کې د ستلج او سیند خوا د ناوو پورې غاړې، په جنوب کې لوی خوږ، په غرب کې تر مشهد او نیشاپور او شمال کې ادیتپا، یا امور دریا (یا د امو رود) پورې رسیدې. دغو پولو ته استعماري هېوادو په زور، دسیسو، ټګیو، دوبښنو ډېر تغییر ورکړئ او افغانانا/پښتانه یې په زیاتو او خورا ناوړو، شخړو، ستونځو او بخولو اخته کړي دي، چې تر اوسه دوام لري.

د پښتنو ځای او ټاټوبی ښایسته، ښکلی، شتمن او د ښې آب و هوا لرونکی دی، چې د ځنو ختیز پوهانو د وینا له مخې د نړۍ ډېرې ښایسته هرمنې میرمنې او نجونې، د دنیا خورا خوږې مېوې، پرېمانه او غوره د رنګونو او معدنیاتو او ډېر ارزښتناک غلمي، قیمتي ډبرې، ښې حاصل خیزې مځکې، ورشوګانې او څړځایونه لري.

② اولس

افغانان/پښتانه چې اوس یې د نفوسو ګرد شمېر د ۷۵ تر ۸۰ میلیونو پورې اټکل کېږي، یو ډېر لرغونی ټبر دی، چې په خورا پخوانو اثارو او ډېر لیکونو کښې د دوی او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی د ځای او هېواد یادونې شوې دي. د ساري او لګښنې په توګه په مېخي ډبر لیکنو، رېګوېدا/ رېغ پیدا یا روغ وېدا یاني روغه پوهه او روغه وینا نومي اثر کې په اوستا یا پیه ستا یا اپوستک چې غټ پوستک (غټ کتاب) هم بلل کېږي همدغه رنګه د ګل ګامیش د حماسې په سرودونو، په مېخمري لیک دود د باګستان په پاتېکړه (نقش) او د هېرودوت، دیو دور، کسېنوفون او نورو په لیکنو کې یې یادونې شوې دي، چې دوی په کې ځایپال یا مینه پال، دود پال، مېلمه پال، پتپال او پتمن، زیار کښ او مېړني وګړي ښودل شوي دي.

مونستوارت الفنستن لیکي، چې افغانان په خپلواکۍ مین، د دوستانو سره رښتیني پرتمن، پر خپلوانو او پلویانو مهربان، مېلمه پال، مېړاني، هوډمن، قانع او متواضع ځیرک او هوښیار وګړي دي" ارنولد فلیچر ور زیاتوي، چې ډېر امکان لري، چې افغانان د نړۍ تر ټولو مېلمه پال خلک وي"۲

تور بورن (Thorbun) د پښتنو د وزیرو د ټبر په هکله زیاتوي او وایي، چې دوی په خپل ځان متکي، زړور، هېواپال، مېلمه پال، متواضع، رښتیني، د زور کاري، رشوت او خیانت پر ضد وګړي دي) ۳

③ د دوی دیني، ټولنیزه، پوهنیزه، هنري او کلتوري ونډه:

لکه چې ورته اشاره شوې دوی په تاریخي اثارو کې د پوهې او هنر لېوال، مینه وال، زیرک او زیار کښ وګړي بلل شوي دي. دوی د ډېر پخوا راهیسې د واحدانیت پلویان او پرې باور او عقیده لري او دوی د پوهې او هنر په ودې او انکشاف کې مهمه ونډه لرلې، چې له دې کبله پښتونخۍ (بلخ) د «علم او هنر ګنبده» "د ښارونو مور" او د لوړو دړفشو او بېرغونو لرونکی ښکلی ښار او د تمدن زانګو یاد شوې)۴

یاد مردال لیکي: د دینونو لوې برخې په بلخ کې منځ ته راغلي دي، چې وروسته یې په هندي (بهارتي) کلتورونو، ساساني کلتور او هم یې یهودي او عیسوي نړۍ تر آغېز لاندې راغلې، بلخ د ېوالي ټکی (ډګر او مرکز) وو"۵

پښتونخۍ د داتا (دود) او قانون جوړونې او قانون پالنې، دودېز دولت د بنسټ کېښودلو او تاسیس ځای او اولسواکۍ او دستور د دې ځای د وګړو له خوا صورت موندلی: ښوتن (ښه تن) د دېموکراسۍ تعریف او ملاتړ کړی او مړدونځ (مېړانځ) یې کلک پلوی بلل شوی.

د نړۍ لومړې مصنوعي کره (ګلوبوس)، چې د طول البلد او عرض البلد خطونو وربانديې کښل شوي وو او غټ او عمده مرکز په توګه په کې غزني په ګوته شوی وو، په افغانستان کې جوړه شوې. ۲)

داسې په اوسنی نړۍ کې ډېر مورج شمېر توري د ګڼک (ریاضي دان) له خوا په بغداد کې ښودل شوي او د هغه ځای څخه بیا ټولې نړۍ ته خپاره شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید یاده شي، چې ګڼ شمېر مهم توریز (حروفي) لیک دودونه د افغانانو له خوا ایجاد شوي، لکه مېخمری لیک دود، داین ډیپ (داین ډیب) لیک دود، چې یو د نړۍ ډېر بشپړ لیک دود، چې دواړه فینیقي، یوناني او لاتیني لیک دودونو ته ډېر ورته والی لري. د میلاد څخه زر کاله دمخه یې په منځني ختیځ کې د خپارولو د هڅو یادونه شوې. علاوه د دې خروټي، سغدی (یاسوري) نغری او نور لیک دودونه د افغانانو په ځای او هېواد کې منځته راغلي دي. ۷)

باید یاده شي، چې د لیک دودونو ایجاد د نړۍ د خورا مهمو نوښتونو څخه دي او د انسان غټه ځانګړنه په ګوته کوي.

بر سیره پردې، یو لړ نور نوښتونه هم د افغانانو له خوا را منځ ته شوي، چې یو لړ یې "په نړیوال کلتور کې د افغانانو ونډه" او د "افغاني لیک دودونه" په نومو پوستکونو (کتابونو) او اثارو کې څېړل شوي دي، کوم چې د افغان اولس د پوهې او هنر، اولسواکۍ، خپلواکۍ سره د مینې او تاریخي لوړ مقام، دریځ او ویاړ څرګندویه دي، نو ځکه خو پښتونځي یا بلخ ته د "د علومو ګنبده"، "ښارونو مور" او "وړانګه" ویل کېدو.

بامیان، کس کور (کالیسه)، زرنج (زرغینه)، هریخوا (هرات)، نغرکوټ، وانه، هډه، پورو شاپورا (پېښور)، تاکسیلا (ټیکسلا) او نور د پوهې او هنر مرکزونه بلل کېدل او د افغانانو د پوهې او هنر، زیار، وړتوب او ویاړ څرګندوبه وو.

④ اوسنی حالت:

ولې د ځنو د ځان ځاني، هرورۍ او د پردو، رقیبانو د لاس وهنو، په دسیسو او ټګېو تېروتنو او غولېدو او د خپلو خواږو په ځای و نورو اړیکو، ګوډاګیان او غمېزو ته غوږ نیونو او په خپلو منځو کې د وېښنو او نفاق دوی کمزوري کړي، ضعیف کړي، په جنګ جګړو یې اخته کړي، په مرګ ژوبلو مبتلا، هېواد یې ګنډواله، تاریخي لوړ او وړ ویاړونه یې بایلیي و په نجولو، سترنځو او مصیبتونو کې ښخ او راګېر شوي دي، چې د ځنو تفصیل او بیان (افغانستان ته اړول شوي زیانونه د شورویانو د مداخلې څخه) نومي اثر کې راغلي دي.

ځای او هېواد د کنډواله شوی او اولس په مرګ، ژوبلې، وژنې، لوږې، تندې، ویر، غم او ماتم کې لاهو او ډوب شوی دی او ظالمان، جابران او ګوډاګیان د دوی د مریي توب په هڅه او لټه کې دي.(۱)

---

۱ – اخیستن چینې

۱- Marco Polo, Von Veneding nach China, Berlin ۱۹۷۲, S۷۲ ff und Sarif, Gul Janan, Geschichte der Afghanischen Erzieung und Bildung, Frankfurt amMain, S. ۱۲ff

۲- Feletcher, Arnold, Afghanistan- Highway of Conquest, Itheaca, New York ۱۹۶۵, S. ۲۴ und Sarif, a.a. O.S ۲۳ff.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ورانیو، ستونځو، کړاوونو او غمونو لړۍ ډېره اوږده ده، چې مفصلې څېړنې او بحثونه ایجابوي. ولې دلته وربانديې د زیاتو تفصیلاتو ډډه کېږي، خو د حل، خلاصون او عملي لارنا امېدي، سستي، دوبښنه او سر ټیټتیا ندي، بلکې پوهه، د ښو او بدو سم تفکیک، هوډ منې، رشني، عدالت، یوالی، خپواکي، د خاورې پشپړتیا، اولسواکي، قانونیت او مشروعیت څخه دفاع، ملاتړ، فعالیت او حرکت دي.

که مرام مو ښه پتمن ویاړلی ژوند وي
د نفاق غمېز توب نه ځان ساتل کړې
په جهل ناپوهې کې مو خطر وینم پښتونه
څو مو وس وي هنر پوهه زده کول کړې

نو تولو رشنو انسانانو او سپېڅلو افغانانو ته ښایي، چې را ویش شي، بیدار شي، را ټول شي، په علم او هنر پسې شي، د عدالت پهخوا شي او خپل وجدان او ضمیر پاک وساتي او اولس، هېواد، کورنی او ځان ته د خدمت مصدر شي او د بشر دوستي، انساني کرامت او د بشر د حقوقو په درناوي، ساتنې او غښتلوب کې فعاله برخه واخلي.

و من الله التوفیق

فرانکفورت ام ماین

3- Thorbrun, a. a. O. S. ۴۰f und Der afghanische Beitrag Zur Welt-kultur, Frankfurt am Main ۲۰۰۲, S. ۵۷

۴ – ظریف، گل جنان، په نړیوال کلتور کې د افغانانو ونډه، فرانکفورت امام ماین ۲۰۰۲ ، ۱۲ او وروسته مخونه، ۴۰ او نور مخونه.

۵- ظریف، نوموړی اثر ۲۲ ، ۴۰ او نور مخونه.

۶- Srohmair, Gerhard (Hg), Al- Biruni, In den Garten der Wissenschaften, Leipzig ۲۰۰۲, S. ۸۴ ff, und Sarif, a. a. O. S ۱۰۲f

۷- ظریف په نړیوال کلتور کې د افغانانو ونډه، ۲۵ او نور مخونه، ظریف، گل جنان، افغاني لیک دودونه، فرانکفورت اوماین ۲۰ ,۲۰۰۹ نور مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زده کړه

لیکونکی: معلم شفیق الله رحیم زی

انسان دیو فعال متحرک متجس او پلټونکي موجود په توګه د تل له پاره دا هڅه او هاند کوي، څو د محیط او ماحول په هکله کوم، چې د انسان ژوند یې احاطه کړی معلومات حاصل کړي دا معلومات ممکن حتمي جنبه ولري او یا ذهني معلومات حاصل کړي، چې دا معلومات ارادي وي یا غیر ارادي.

## د روان شناسۍ له نظره د زده کړې تعریف:

د انساني فرد په سلوک او کردار کې مثبت او بنیادي تغیر ته زده کړه وایي یا په بل عبارت د تجربې او تکرار په نتیجه کې کوم مثبت تحول او تغییر، چې د انسان په سلوک او کردار او اعمالو کې منځ ته راشي عبارت له زده کړې څخه دی.

## د زده کړې په هکله ځیني معلومات:

د زده کړې تقویتي تیوري اکثر دا سې ویل کېږي، چې زده کړه هغه وخت په ښه ډول سره صورت نیسي، چې تشویق او ترغیب سره ملګري وي. د دې نظر مطابق انعام او بخشش د زده کړې لپاره اساسي ګڼل شوی دی.

کلارک هال یو امریکایي روان شناس ۱۸۸۴-۱۹۵۲ د زده کړې په هکله دا سې نظر درلود، چې د هغه په عقیده د زده کړې له پاره اساسي اصل او عکس العمل تر منځ رابطه قایمول یا په بل عبارت زده کړه هغه وخت صورت نیسي، چې د انګیزې او جواب ترمنځ یوه دوامداره رابطه بر قراره شي تر څو موضوع د تکرار او مشق په نتیجه کې عادت ته راشي.

## دوه ډوله مثبت تقویت وجود لري:

الف: معنوي تقویت او مادي تقویت هغه تقویت دی، چې مستقیماً د جسم احتیاجاتو او ضروریاتو د رفعې سره تعلق نه نیسي، بلکې یو ډول معنوي انعام او تقویه ده، چې د ښه کار په مقابل کې زده کوونکي ته ورکول کېږي، لکه آفرین تحسین تقدیر آواز د مکاتبو معلمین د ماشومانو اولیا یا والدین غالب هغه امور، چې غواړي زده کوونکو ته ور زده کړي. معمولاً د تقویت او انعام څخه کار اخلي.

مادي تقویت: هغه مثبت تقویت دی، چې د هغه په مرسته دیو ژوندي موجود جسمي نیاز او احتیاجات رفع کیدا شي، مثلاً یو ماشوم ته دیو عمل په مقابل کې یو جاکیټ ورکول یا یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاگرد ته د رياضي مسئلې د حل په نتيجه کې د تحفې په شکل قلم، کتابچه او پنسل ورکول.

معمولاً د بخشش او انعام په ورکولو کې بايد لاندې ټکو ته توجه وشي:

① د زر ورکړه د جواب سره سم بايد ورکړای شي تر څو شاګرد د انعام او مطلوب ترمنځ رابطه قايم کړای شي. سکينر (Skinner) امريکايي روان شناس د تقويت لپاره جدول ترتيب کړی، چې لاندې ټکي لري.

[۱] يو امکان يې دادی، چې د هر جواب په مقابل کې تقويت ورکړی شي.

[۲] دوهم امکان دادی، چې د ټاکلو جوابونو څخه وروسته بايد تقويت ورکړی شي.

[۳] دريم امکان يې دادی، چې ديو ټاکلي وخت څخه وروسته بايد تقويت ورکړی شي.

[۴] څلورم امکام يې دادی، چې کله نا کله بايد تقويت ورکړی شي.

د تجربو او څېړنو په نتيجه کې ثابت شوې، چې څلورم ډول تقويت (کله نا کله) په زده کړې زيات مؤثر تمامېږي او دا تقويت عادلانه اصل دی کوم، چې له دې طريقې زده کړه تر لاسه کېږي ممکن دايمي وي.

د اندازې له مخې د انعام موازنه بايد په نظر کې ونيول شي يعنې انعام دومره ډېر نه وي، چې اصل هدف د زده کړې په انعام اخيستو تبديل شي، که څه هم تقويت په زده کړه کې مهم رول لري، مګر په دې تيوري کې څه نواقص او نمګړتياوې شته، چې عبارت دي:

① د زده کړې د تقويت له لارې مخانيکي او موقتي وي.

② پر تجربو ثابت دي، چې زده کړه بايد ټول عمر په انعام متکي نه وي ډېر مسايل د تقويت څخه په غير هم زده کېږي.

③ که چېرې تقويت موجود نه وي، نو څنګه چې زده کوونکی په انعام عادت شوی وي، نو زده کړه توقف کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دستوروكاروان

عکسر خان چالاک

## زخمي مارغه

ستړې ستړې پورته شوه ګلونه ځيني والوته
خوله کې يې ثنا وه له ځنګلونه ځيني والوته
هغې تور کاګلې بلبلکې شناخته پرېښووده
شناختو ځيني والوته قبرونو ځيني والوته
زړه يې د حيا د خونينو غشو نه چاودلی وه
لاره د ښکاريانو چپاوو نه ځيني والوته
کېناسته په تيږې باندې سور ګل ته يې وژړل
نيمه شپه د زور له امبارو نه ځيني والوته
ناسته وه د سيند په غاړه سيل يې د څپو کاوه
چيغو او فرياد کې کلکځونو حسين والوته
ګرځي وچو دښتو کې عسکره سرګردانه اوس
لاړه د آدم له اولادونو حسين والوته

سایل

## غزل

شپه مې شوګير خوب په ليمو نه لرم
زړه کښې مې ته يې بله ارزو نه لرم
وايې هر وخت چې زه به درشم اشنا
د زړه باور دې په وعدو نه لرم
شپه په ژړا ورځ په انتظار تېرېږي
وايې رقيب په تا پيرزو نه لرم
که زه دې وسوم هم به ته سوځېږې
نور انتظار په دروازو نه لرم
مثال د شمعې او پتنګ وګوره
نوره پروا په اوازو نه لرم
حسن بهار دی خزان مخکې لري
مينه کښې طمع د مزو نه لرم
سايله پټ پټ په خندا ولې شوې
امکان د پټو کرشمو نه لرم

## معلم ته (سيد نور)

په شاګرد مه کوه غصه معلمه
چې درنه واخلي څه فايده معلمه
چې د کوم سوال درنه پوښتنه وکړي
ورکړه ځواب هغه شيبه معلمه
چې علم نه کړي توجه خپل درس ته
ورته بيا ورکړه يو چوکه معلمه
ښايه شاګرد ته يو څه ښايه ښايه
مه کړه شاګرد سره دوکه معلمه
د علم زده کړه په هر چا فرض ده
په کې بوخت او سه ورځ او شپه معلمه
ګوره الله درنه پوښتنه کوي بيا
مه ګڼه درس ويل لطيفه معلمه
درته سيد نور په خپل پيغام کې وايي
شو زما شعر درته تحفه معلمه

## ګل رنګ (کوچوان)

لکه سپرلي کې چې تو کېږي ګلان
هومره په زړه مې را ورېږي جانان
شپه دې سوچونو کې سبا شي په ما
خدای خبر څنګه به خپلېږي جانان
ستا تصويرونه چې را ياد شي کله
قسم چې زړه زما ورانېږي جانان
که يې هرڅو مره هېرومه نه هېرېږي
راته د سترګو سترګو کېږي جانان
ستا د هجران لمبو کې سوځي کوچوان
يوه لحظه مې نه هېرېږي جانان

## دا هم معلم ته(سید نور )

کوه شاګرد باندې ډېر پام معلمه
چې یې دی عقل بیخي خام معلمه
که درنه چېرته یو څو توري زده کړي
انشاء الله ښه به یې وي انجام معلمه
د امتحان پارچه یې په غور ګوره
چې پاتې نه شي څه کلام معلمه
چې شي ناسوب ورته یو غړ ورکوه
چېرته چې نه شي درنه ناکام معلمه
که ډېرې ورځې درس ته رانه شي دی
پلار ته یې ولیږه پیغام معلمه
ځایوی نه شم ستا صفت په شعر کې
ډېر زیات دی لوی دا ستا مقام معلمه
اخر سید نور په دا خپل شعر کې وایي
درته سلام سلام معلمه

## پښتانه (سید نور )

وباسي کار نه کړي ګیله پښتانه
خیر دی که نه دي په یو خوله پښتانه
خبره نه کوي خپل زور لګوي
نه لري دومره حوصله پښتانه
ښه دي ژوندی تري یو وتی هم نشي
چې کړي کوم ځای باندې حمله ښتانه
څوک وایي؟ چې دوه کسانو زور نه لري
لوټوي ټوله قافله پښتانه
کوي جنګ چا سره چې زړه وغواړي
هغه بیا ورځ وي او که شپه پښتانه
سید نوره دې باندې مې زړه نه خوښېږي
کوي سل ځل یو فیصله پښتانه

## د ستورو کاروان

## خپل دوست محبت الله (محبت) ته ډالۍ
کوم. سمیع الله خاکسار

پروت یمه هر دم سترګې راواړوه
راشه ای صنم سترګې راواړوه
ستا په غم کې وسومه ایره شومه
خورم درته قسم سترګې راواړوه
ستا در ته ولاړ یمه ژړېږمه
مه کوه ستم سترګې راواړوه
ته مې د پرهیز زړګې دوا وکړه
ډېر دې ژړولي دي سمیع خاکسار
ستا دي وي قسم سترګې راواړوه

## د ستوري کاروان ته ډالۍ
سمیع الله خاکسار
ژوندی شمه

کله به دا ستا په زړه کې ځای شمه
وخاونده جانانه چې ژوندی شمه
ټوله شپه سندرو کې دې ستایمه
کله به دا ستا د تن زړګی شمه
مینه محبت به سره پالو بیا
کله چې دا ستا د لاس بنګړی شمه
پام کوه له سر نه مې خطا نه کړې
کله چې دا ستا د سر منګی شمه
ډېر به سمیع خاکساره وژاړې
کله چې دبل لاس کې زړګی شمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وطن دردمنو بچیانو ته ! (سید عبدالله نادر)

## وخت د خپل ځان، د خبرېدو ګله

دغــه زمــان د ژړېــدو دی ګلــه
بیــا د عبــرت د اخیســتو دی ګلــه
وخــت غنیمــت دی، خــو لــه لاســه وځــي
ژر شــه چــې وخــت پــه تېرېـدو دی ګلــه
غلـیم زمــوږ پــه ســر نوشــت کــړې لــوبې
وخــت د خپــل ځــان د خبرېــدو دی ګلــه
تــر څــو بــه پــروت یــې د غفلت پــه خوب کــې
دغــه فرصــت د وېښــېدو دی ګلــه
د معرفــت پــه کــور، یرغــل راغلــی
علمــي بنیــاد پــه نړېــدو دی ګلــه
چــې لیــرې نــه شــي لــه کاروانــه د علم
مضــبوط قــدم د اېښــودو دی ګلــه
هغــو کــه وران کــړ پــه جفـا ســتا وطــن
تاتــه فرصــت د جوړېــدو دی ګلــه
تــر څــو بــه مـات وګـوډ و خلاصــه خولــه یې
دغــه حالــت د پاڅېــدو دی ګلــه
پــه مغــارو کــې د وحشــت یــو ایســار
مصــلحت مــوږ تــه د وتــو دی ګلــه
کــه د همــت څخــه وانخلــې تــه کــار
خــدایږو ســتا نــوم پــه ورکېـدو دی ګلــه
نــادر ژړیــږي ســتا پــه غــم کــې مــدام
ســتا خــوار حالــت د څوریــدو دی ګلــه

سمیع الله خاکسار

ســتړی ســتری شــومه یــاره کــه راځــې
درتــه څــارم ســره لاره کــه راځــې
د وخت تولې رنګینې راتــه سور او رشوې
رســېدلی یــم تــر داره کــه راځــې
ستا د عشق پــه لمبو وسومه ایره شوم
ای د ســوي زړه پرهــاره کــه راځــې
د ژونــدون اخـر دیـدن مـې راشـه وکـړه
نـور روان یـم لـه دې ښـاره کـه راځــې
څـه وکـړم سمیع خاکسـاره څـه وکـړم
وســو بــې انګــاره کــه راځــې

## توبه وباسم

غزل

کــړه لــه کلــي پــه دې شــپه وباســم
ســتا لــه یــارۍ ځینــې توبــه وباسم
خدای خبر بیـا بـه سره یو شو کـه نـه
نــور دې د زړه لــه کــور پخــه وباسم
د وخت حالات راتـه سور شو پـه خدای
د ســوي زړه درتــه ګیلــه وباســم
د مینــې ټــول محــل ویجــاړ شــو اشــنا
څکــه لــه دې ځایــه پښــه وباســم
سمیع خاکسـاره بـس نـور څـه پـاتې دي
لــه خپــل زړګــي ځینــې ټپــه وباسم

ځو بـه پـه چکـر چـې د سپرلي غوندې موسم وي یـار
داسـې نـه چـې مـوږ تـه قـدم پـه قدم بـم وي یـار
نـه مې شي بـاور چې خوشـحالي بـه مې لیـدلي وي
هـر ځـای چې ځمـه نـو هماغلتـه کې غـم وي یـار
دومـره وخـت مـې نـه کېـږي چـې تـا بانـدې مـین شـوم
یـو کـال بـه یـا کېـږي او یـا دینـه بـه هـم کـم وي یـار

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خلیل الله یوسفزی
## د حقوقو او سیاسي علومو محصل

د عشق په دنیا کې عاشقی ده زما خوښه
جانانه ستا لیدو ته بې صبري ته زما خوښه
چې ستا دیدن په کې وي نور څه نه غواړم له خدایه
ولو که غلامي وي غلامي ده زما خوښه
تر خو پورې به موږ مینه کړو په پټه
د داسې پټې مینې رسوایي ده زما خوښه
زه خلیل شاعر نه یم بس شوقي یم د شعرونو
چې را یاده شي په شعر کې شاعري ده زما خوښه

صفی الله وفادار

## غزل

عشقه لېونی دې کړم نور څه غواړې
ودې سوم لوګی دې کړم نور څه غواړې
تا هم د غریب په شان کاني وکړې
خپلو کې پردی دې کړم نور څه غواړې
وګوره دې زېړ زېبخلی رنګ ته مې
هسې وچ لرګی دې کړم نور څه غواړې
تا په دې غمجن زړه د غلبیل په شان
سم سوری سوری دې کړم نور څه غواړې
زه که د جانان د وربل ګل وومه
لاړمه اغزی دې کړم نور څه غواړې
پاتې وفادار نه دی کور کلی کړه
بس دی لاروی دې کړم نور څه غواړې

## څه بلا وخته (سالارزی)

زما قسمت کې څه بلا وخته
چې محبت کې مې معما وخته
نه پوهېدمه چې به ګل اغزی شي
ارزو د مینې مې خطا وخته
ما خو ګڼله سپینه ورځ روښانه
نه ووم خبر چې ورځ لیلی وخته
زما خو شپې ورځې دیار په طمعه
شپه تر سهار مې په سودا وخته
رانغلو لاس ته خوږ دلبر د مینې
ځکه په کوکو مې ژړا وخته
په انتظار کې تل دیار لارې ته
ډېرو کتو سره مې ساه وخته
سالارزیه مینه دې یو خیال وخاته
ښه چې له یار مې تمنا وخته

## کله نا کله (سالارزی)

کله ناکله مې سلام اخله
دلبره ته زما پیغام اخله
د غمازانو په خوله مه لمبېږه
د سوې زړه نه مې الهام اخله
ملنګ د دره بېنوا مه شړه
څېرې ګېروان ته هم یو کام اخله
د ببرو سرو په حال رحم پکار
بې اسرې زړه ته لږ ارام اخله
په شیطانۍ مې د رقیب مه رټه
کله زما غریب کلام اخله
بې له تا ژوند زما امکان نه لري
نګاره ژوند ته مې لږ پام اخله
سوو نارو ته مې لږ غوږ ونیسه
دې سالارزي له هم جام اخله

د ستورو کاروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خال مينې د ژوند واقعي قصه

ليکوونکی: رحيم شاه حيات

ډېر بوټو د سپرلي په طمعه د خزان د سپېرو بادونو د لاسه پاڼې توې کړې، خو د خزان ترخو بارونو داسې وځپلی چې په ژوند کې يې سپرلی ونه لېده او د ټول عمر لپاره د اور خاشاک وګرځېدل داسې چې خال مينه په کوچنيوالي کې پلار خپل وراره ته د خپل زوی لپاره په بدل ورکړه او د وراره خور يې خپل زوی ته وکړه. کلونه تېرېدل چې د خال د مينې د ځوانۍ سپرلی را ورسېده او د مين اکا وراره او زوی هم زلمي شول. د څه وخت وروسته د واده لپاره تياري شروع شو. لنډه دا چې ودونه وشول څرنګه چې خال مينه د رنګ څخه دومره ښکلې نه وه او قد يې هم لوړ نه و، نو کله چې واده وشو، نو د خال مينې د ژوند ترخې ورځې شپې شروع شوې داسې ترخې ورځې او شپې، چې لږ وخت وروسته د مين اکا وراره د بلې ښځې د کولو لپاره اراده وکړه. تقريباً يو کال وروسته د مين اکا وراره بله ښځه وکړه او لږ وخت وروسته يې واده هم وکړ. د دوهم واده کولو څخه وروسته د خال مينې ژوند نور هم ورپسې تريخ شو. خال مينې په کور کې ديوې داسې نوکرې په حيث ژوند تېروه، چې سهار به يې ډوډۍ وخوړه نو ترماښامه به يې بيا ډوډۍ نه ورکوله او داسې سخت کارونه به يې پرې کول، چې د کور نارينو به هغه کارونه هم سرته نه شو رسولی.

د هغې د زېږ زېښنلي مخ څخه به له ورايه څرګنديده، چې د ژوند له ناکرديو سره سخته لاس او په ګرېوان ده، خو هغې نشو کولای، چې د خپل ژوند تودې او سړې خپل پلار او مور او يا نورو ګاونډيانو ته ووايي، که چېرې هغې د خپل ژوند دغه حال پلار يا مور او يا ګاونډيانو ته ويلی وای، نو بيا هغې ديو وخت ډوډۍ هم حرامېده، نو مجبوره وه چې د ژوند دا سختې په صبر ناک وجود وزغمي، خو که هرڅومره به يې دا سختې پټولې خو د هغې له زېږ زېښنلي مخ د جړو وښتانو د شليدلي ټکري او له زړو چپلکو په ډاګه څرګندېده، چې ژوند يې ديوې غلامې له حيثيته هم ټيټ دی او په پټه خوله يې د ژوند د ناخوالو سره ګرېوان تر ګرېوان نيولی و.

کله چې ماښام به کور ته راغله، نو خسر او خواښې به ورته ويل، چې روژه دې خوړلې ده، ځکه دې لرګي يا ګيا تر کوره را ورسول. ماښام به د روژه ماتي په وخت کې ورته د جوارو ډوډۍ په سيمه يزه لهجه سوکړک ورکړل شول او ورته به وويل شول، چې له موږ جدا کېنه. هغه ديوې فقيرې غوندې دخپل کور د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوهي په غاړه ناسته وه او د روژه ماتي د اذان په هیله به وه.

کله چې به اذان وشو، نو هغې به روژه ماته کړه او د اوبو سره به یې د جوارو ډوډۍ خوړه په همدغه سختیو کې یوه ورځ خال مینه او خسر یې په دې تکل له کوره ووتل، چې د غره څخه د خارویو لپاره گیا راوړي دا داسې وخت دی، چې کوچیان له گرم سیرو سیمو نه د خپلو رمو سره راستانه شوي دي. خال مینه او خسر دواړه د غره په لور روان شول او تقریباً د دوه نیم ساعتو پیدل مزل څخه وروسته هغه ځای ته ورسېدل، چې خال مینې به هره ورځ له هغه ځایه د لرگو یا گیا پنډ پر سر راوړه. په غره کې یې خسر او خال مینه سره بېل شول او هریو د خپل پنډ په پوره کولو لگیا شول. خسر یې خپل پنډ پوره کړ، بې له دې چې د خال مینې پوښتنه وکړي د خپل کور په لور را روان شو. تقریباً ۱۲ بجې به وو چې کورته را ورسېد، خو تر مازدیگره د خال مینې هیڅ معلومات ونشو، خو چا څه غم پرې هم نه کاوه تقریباً څلور بجې شاوخوا به وو، چې د خال مینې د یوه نژدې گاونډي په موبایل کې چې خیر نومیده زنگ راغی، چې یو کوچي شپونکي ورته وهلی وو او ورته وویل، چې دلته دیو لوی گړنگ لاندې دیوې ښځې جسد او ورسره یو د گیا پنډ پروت دی. خیر گل سمدلاسه د خال مینې خسر خبر کړ، چې خال مینه خو غره ته نده تللې؟ د خال مینې خسر ورته وویل، هغه خو ما سره غره ته تللې وه، خو تر اوسه یې معلومات نه کېږي.

خیر گل سمدلاسه د خال مینې خسرته وویل، چې دغسې یو کوچي شپونکي راته زنگ ووهه، چې دلته په یو لوی گړنگ کې دیوې ښځې مړ جسد او یو د گیا پنډ پروت دی. همغه وو چې د چم گاونډ خلک د غره په لورې روان شول، کله چې هلته ورسېدل د خال مینې مړ جسد دیو لوی گړنگ څخه لاندې پروت دی او د ژوند اخري سخته یې هم وڅلکه او د ټول عمر لپاره د خپل کړیدلي ژوند سره خدای پاماني وکړه.

دغه د ژوند اخري ورځ به یې د واده څخه اته یا نهه کاله وروسته وه، خو په دنیا کې د خپل لاس یوه ښه بې هم پرېښنبوده او لکه دیوې بې مېوې ونې په مثال چې مېوه نه کوي او خاوند یې له ډېره قهره له ستې وباسي له دنیا څخه ولاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له ځوان شاعر اتل سباوون سره مرکه

**لیکوونکی: سید شفیق الله رحیم زی**

د ستوري د مجلې ګرانو مینه والو دا ځل مو د یوه ځوان او تکړه شاعر سباوون اتل سره د هغه د ژوند او شاعرۍ په باره کې مرکه کړې هېله ده، چې ستاسې د خوښې وړ ورګرځي.

پوښتنه: اتل صیب که تر هر څه لمړی د ستوري مینوالو ته ځان ور وپېژنې خوښ به شوو؟

ځواب: سلامونه، ګلونه مینه او احترامات د ستوري ګرانو لوستونکوو ته. زما نوم سباوون اتل د ډګروال لعل محمد زوی د کونړ د ولایت د خاص کونړ د ولسوالۍ او د تنر د کلي اوسېدونکی یم.

پوښتنه: که د خپلو زده کړو په باره کې لږ غوندې معلومات راکړې خوښ به شوو؟

ځواب: مننه! زه اوس مهال د خاص کونړ د عالي لیسې د دولسم ټولګي زده کوونکی یم.

پوښتنه: عمر مو څو کاله دی؟

ځواب: زما عمر تقریباً ۱۸ کاله دی.

پوښتنه: څه علت و، چې شعر لیکلو ته مو مخه کړه؟

ځواب: له کوچنیوالي مې د شعر او شاعرۍ سره مینه درلودله، خو د وطن مینه وه، چې زه یې شعر لیکلو ته مجبوره کړم.

پوښتنه: څومره وخت کېږي، چې شعر لیکې؟

ځواب: تقریباً دوه کاله کېږي، چې شعر لیکم.

پوښتنه: تر اوسه مو څومره شعرونه لیکلي دي؟



ځواب: تر اوسه مې ۶۵ شعرونه لیکلي دي.

پوښتنه: اتل صیب د شعرونو مقدار مو ډېر کم نه دی؟

ځواب: دا چې زه متعلم یم د وخت له نشتوالي سره مخامخ یم. زما په نظر دا هم د دې مصروفیت سره ډېر دي.

پوښتنه: د چا له شعرونو څخه متاثره یاستی؟ او د چا شعرونه خوښوئ؟

ځواب: د خپل محترم ورور احمد جاوید له شعرونو څخه متاثره او د غني خان، حمزه بابا، اسرار اتل او د چا چې ښه شعرونه وي خوښېږي مې.

پوښتنه: په شعر لیکلو کې درسره چا مرسته کړې؟

ځواب: خپل ورور جاوید له ما سره ډېره زیاته مرسته کړې ده او کوي یې.

پوښتنه: د خپلو دوستانو سره اورین غونډې کوې کنه؟

ځواب: هو! ادبي دوستانو سره غونډې کوو.

پوښتنه: له کومو دوستانو سره ادبي غونډې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوې؟

ځـواب: افتخـار عطـا، سـمیع الله خاکسـار، عبـدالمنیر غیـرت، ثنـاء الله شـاهد، عبـدالتواب وسیم غورځنګ، واسیع الرحمن عزیزي، فرید الله حیات، خالد محبت سره کله کله ادبي بنډارونه جوړوو.

پوښتنه: اتل صیب ستاسې دوستان وایي، چې د تل لپاره خوشحاله یاست؟؟؟

ځـواب: بـس دا د دوسـتانو مینـه ده، چـې زه یـې خوشحاله ساتلی یم او دا د هغوی نیک نظر دی.

پوښتنه: اتل صیب مینه مو کړې که نه؟

ځواب: ډیره خطرناکه پوښتنه ده، نو هو! ما ډېره زیاته مینه کړې.

پوښتنه: د چا سره؟

ځواب: د خپلې خوږې مور او د خپل خوږ وطن سره ډېر زیاته مینه کوم.

پوښتنه: واده مو کړی که نه؟

ځواب: نه تر اوسه مې د واده په اړه څه فکر نه دی کړی او غواړم، چې خپلې زده کړې پر مخ بوځم.

پوښتنه: که په اخر کې افغان ځوانانو ته څه پیغام لرې؟

ځواب: زما پیغام ټولو افغانانو ته دادی، چې د جنګ جګړې څخه لاس واخلي او د ورورۍ په فضا کې خپل ژوند تیر کړي او ځوانانو ته مې دا پیغام دی، چې خپلې زده کړې تر عالي درجې پورې ورسوي.

والسلام

## سباوون اتل

اوښکې دې د سترګو نه روانې شوې
لارې مې د زړه درپسې ورانې شوې
خوب کې مې جانانه داسې ولیدې
مخ دې رانه واړاوه روانه شوې
زه دې په دیدن باندې موړ نه کړمه
مړه شې جنۍ مړه شې پښېمانه شوې
تا د محبت وعدې پوره نه کړې
ولې دومره زر رانه ستومانه شوې
ته زما یوه خبره نه منې
زه دې شوم عسکر ته قومندانه شوې
نه کوې اتله مینه نه کوې
ولې شوې خفه څومره نادرنه شوې

زړه کې دیره مې کړه چې د زړه نه مې ونه باسې
خیال کې مې ساته ګوره د ذهنه مې ونه باسې
کله چې دعا کوې او خدای ته په سجده یې ته
ای زما خوږې مورې دعا نه مې ونه باسې
زه خو په زړګي کې بس یو ستا مینه ساتلی یم
عشقه ګناه کار نشم د دین نه مې ونا باسې
کله چې خیرات د ښکلي حسن او دیدن کوې
زه ګوره ملنګ یم قطار نه مې ونه باسې
مینه کې منصور یمه په دار باندې ختلی یم
څم د عشق په لاره د کاروان نه مې ونه باسې
ستا د در ملنګ یم خیرات درنه نور نه غواړم
بس یو سوال مې ومنه غزل نه مې ونه باسې
زه (اتل) څه نه غواړم زاري درته کومه نن
ورک دې شم د کلي خو خندا نه مې ونه باسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شیطان د پرښتې په جامه

# پر لیکسې ناول - دویمه برخه

لیکوونکی: ص ف حیات

زه په همدې وخت کې د مسافرو په هجوم کې د اورګاډي ښې خواته ولاړم د ځوان مطلب دا و چې زه د اورګاډي کینې خواته ناست وم ما بیا پوښتنې پیل کړې آیا کوم وخت چې دغه سړي د لوخو په ځنګل کې پناه شو ته د هغه څیرې څه ډول انسان وه قد او اندازه او څه ډول لباس یې په تن وه. ځوان په تسلی ځواب راکړ، افسر صاحب تیاره وه او په غالب ګومان هغه خو په څیره هم پته کړې وه، خو بیا هم له منډې یې د څرګندېدله چې ځوان غښتلی سړی وه.

د ځوان د دې خبرې څو نورو مسافرو هم تائید کړې، خو ځینې مسافرو ویلې چې هغه دوه کسان په منډې لېدلې، خو نور دیو کس په حقله یقین کاوه. پېښه هم رښتیا دردونکې وه، خو پوره نه وه معلومه، چې پېښه ځان وژنه وه او که کومه بله مسئله وه.

د اورګادي چلوونکی او د مسافرو له څرګندونو څخه ما د اورګادي ساتونکي ګارډ په لور ور وکتل، چې زیات خپه او غمجن ولاړ و. وضع داسې معلومېده، چې په جنګ یې غوښتل، چې دا مسئله حل شي. پوښتنه مې ترې وکړه ساتونکي ته د پېښې په هکله څه وایي.

په ډېره تروه تنده یې ځواب را کړ د حضور زه غواړم چې دا مسئله ژر حل کړه. یو خو شپه ده د بلې خوا ځینې مسافرو کلیو و بانډو دي. ماهم ورته په تروه تنده وویل، ستا نوم څه دی او نمبر دې څه دی؟

زما نوم ارشد او زما نمبر Logbod۲ کې لیکل شوي زر یې له جیبه کتابچه را وویسته د حاضرو مسافرو او نورو اشخاصو تر وینا و وروسته ما د ساتونکي په ورځني کتاب کې لاسلیک وکړ.

اورګاډي ته مې اجازه ورکړه په همدې ځای کې یو څو پولیسو څارنه کوله. د لاسي څراغ په وسیله مې رڼا واچوله په رښتیا هم پېښه ډېره دردناکه او مجرمانه وه.

د پېغلې بدن دوه ځایه غوڅ شوی و. تنه یې د پاټلی په منځ کې پرته وه. نږدې شا وا خو تختې او ځایونه په وینو سره وه. ډېر ویرونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالت وه. په زړه کې رنګ رنګ سوچونه او خیالونه را تلل او په زړه کې مې دا پرېکړې کولې، چې اخر د وژنې لامل څه دی.

په ځواب پسې اریان ګرځېدم. آیا دا وژنه خودکشي یا قتل دی که ځان وژنه وي نو ولې د آسمان تورو وریځو هم دا ځواب راکاوه، چې باران هم راتلونکی دی. بل طرف ته زما دنده وه. په هر حال اراده مې پیاوړې وساتله د اورګاډي له پاټلی څخه یو څو قدمه وړاندې مرکزي لویه لاره (شاهراه) چې د ښار او کلیو خلکو تګ را تګ وربانديې کېده ما هم په تیاره کې نظر وچاوه له لیرې ځای څخه یو څو دکانونه په نظر را تلل د خبرو په منځ کې یو پولیس راته وویل، افسر صاحب هغلته مخامخ د بسونو اډه ده موږ هم ور نږدې کېدلو له دې ځایه په د کلیو خلکو په بسونو کې تګ را تګ کاوه.

ځینو خلکو به په اسونو یا خرو سورلی کوله په همدې ځای ې دوه درې دوکانونه او یو وړکی د چایو هوټل هم تر سترګو کېده.

ما دوه پولیس هغه دکان ته ولېږل او دیو کټ غوښتنه مې ترې وکړه. ما د څو پولیسو په ملګرتیا کالبوت روغتون ته ولېږدا وه، چې طبي کتنې (Post-Mortem) یې وشي. په دې وخت کې (ISI) استخباراتي پولیس د اسمان لورې ته وکتل او ویې ویل که باران پیل شي نو د وژلې شوې د وینو داغونه به باران وران کړي. ما ورته وویل وژونکی هم د باران د موقع څخه استفاده کړې، ځکه باران به د ده اینښو پلونه وران کړي. استخباراتي پولیس وویل، زما په ګومان وژونکی په بس کې راغلی او همدلته کوز شوی. د تګ په دوران کې مې لاسي څراغ په وسیله رڼا واچوله، چې ماته یوه ښځینه سنډل بوټ په نظر راغی، چې یو څو قدمه وروسته یو بل بوټ هم په نظر راغی.

څرګندو چې دا د همغې پېغلې بوټان وه. دا د پېښې له ځایه شل قدمه وړاندې ساحه وه. سنډل مې پورته کړل او پولیس ته مې ورکړل په سنډلو د وینو کومې نښې نه وې. دا سې معلومېده چې پېغله مخکې د ځان وژنې بوټانو ویستلو ته اړه شوې وه.

په هر حال، موږ خپلې پلټنې ته دوام ورکړ په همدې وخت کې استخباراتي پولیس په ویرېدونکي او تیز غږ سره اواز کړ. افسر صاحب لږ را تیز شه ما قدمونه کړندي کړل، چې نږدې ور سېدم نو له یو حیرانوونکې پېښې سره مخ شوم. ګورو چې یو ماشوم په یو ټوټه کې نغښتل شوی او له دنیا او ما فیها څخه ناخبره پروت لږ ور ټیټ شوم ډېر ښکلی او نازولی ماشوم وه. معلومه خبره وه، چې د همدې مظلومې ښځې بچې وه په زړه کې مې نوې خیالونه پیدا شول. افسوس په دا سې ظالمانو او جابرو خلکو. په دې وخت کې یو پولیس وویل: ښایي چې دا ماشوم د دې ښځې نا جایزه ارموني اولاد وي له دې امله یې ځان وژنه او یا د مخالف شخص اخوا ورسره دا سې عمل شوی وي. دا ځای د لوښو په ځنګلو کې د پېښې له ځای څخه ۴۰ قدمه وړاندې و.

په دې وخت کې استخباراتي پولیس وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې که دا چنئ د ځان وژنې په نیت راوتې وای ښايي چې اولاد يې په کور کې پرېښې وی دخپل ماشوم دوه مره سوچ خو به ورسره وای دا خو د ماشوم سره جفا ده. يو پوليس وويل ښاغليو ارموني اولاد څوک په کور کې نه پرېږدي زما په يقين کوم سړی چې مسافر و په منډه ليدلی وه د دې جينی ملگري به وه. ما د پوليس نه غوښتنه وکړه، چې ماشوم را اوچت کړه او د لوړې د رفع کېدلو لپاره ورته له هوټل نه لږې شيدې راوړه او بيا لاړ شه د کلي يو پوه او عاقل سړي ته يې وسپاره. ماشوم مو را اوچت کړ له وجود غښتلی او ښکلی څرگندېده عمر يې تقريباً د پنځو يا شپږو مياشتو وه. پوليس د کلي پر لور روان شو ما سره يو استخباراتي او يو عادي پوليس پاتې شول. ما استخباراتي پوليس ته وويل: آيا کيدای شي، چې دواړه په بس کې راغلي وي او دلته ښکته شوي، چې دوکاندارانو به دوی ليدلي وي. تر لږ سوچ يې وويل، که بس کې راغلي وي نو د جينی ملگري به بېرته بس کې تللي وي خو پوښتنه دا و، چې مسافرو يو سړی په منډه ليدلی و، چې د لوخو په ځنگل کې خير همدې کې د خبر يو اړخه موجود و. موږ د لوخو په ځنگل کې په يو جدا شوې لاره روان شو، چې د بس اډې ورسېدو، چې دلته څلور پنځه کسان موجود وو، چې درې دوکانداران وو او دوه عام وگړي. دا پنځه واړه د چايو په دوکان کې ناست وو. گومان کوم چې د همدې پېښې شوې پېښې په هکله يې خبرې کولې زموږ نا څاپي ورتگ ورته د حيرانتيا پيدا کړه، چې موږ يې وليدو سمدلاسي چوپ شول..... نور بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کونړ د سیند پېژندنه

لیکونکی: عنایت الله افتخار



د کونړ سیند په حقیقت کې د کونړ دیو شمېر سیندونو مجموعه ده، چې په لرغوني اثارو کې د کونړ سیند وتلی مقام لري، چې دې مقام خپله د کونړ د خپلې شعاع لاندې راوستی، نو ځکه چې کونړ یوه غرنۍ سیمه ده او بې شمېره خوړونه او ردونه لري د بلېخوا د کنړ سیند په تاریخي اثارو کې د (راستا ) په نوم یادېږي، چې د دې نوم سره له یوې خوا نه افغانانو اشنایي درلوده د کونړ د سیند نوم چې د کونړ لپاره خورا زیات شهرت ورکړی، چې د همدې په وجهه د کنړونو ولایت په ټول هېواد کې ډېر ارزښتناک نوم باندې یادېږي.

دا چې د کونړ سیند په ټولو سیندونو کې چې په دې ولایت کې د سر سیند بلل کېږي او نور سیندونه په ولایت کې د همدې سیند معاونین ګڼل کېږي.

## د کونړ سیند تاریخي سوابق:

د کونړ سیند زموږ د ټاټوبي د خورا لرغونو سیندونو له جملې څخه یو لوی لرغونی سیند دی، چې په پخواني اثارو کې په ښلا ښلو نومونو یاد شوی او اهمیت یې په دې کې دی، چې د اریان په ویدي سردونو کې د (راستا ) په نوم ستایلی شوی دی او زیات تاریخي قدامت لري. د کونړ ستر سیند د خراسان د سترو سیندونو له جملې یو لوی سیند دی، چې د امو څخه وروسته مهم مقام لري. په حقیقت کې د راستا دغه تاریخي قدامت دی، چې د کونړ ولایت ته یې تاریخي سابقه ور په برخه کړې. هغه په دې مانا چې په پخواني اثارو کې د کونړ د سیند څخه دومره یادونه او ستاینه شوې، چې هومره د کونړ ولایت نه ده شوې یا دا چې د کونړ سیند په اړوند تاریخي اثارو ته وکتل شي، نو په مقایسوي ډول د کونړ سیند څخه په پراخه پیمانه یادونه شوې.

د کونړ په اړه په سردونو کې پوره غور والی د هندوکش د لمنو واخانو غاړو د اریایانو د قبیلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهاجرینو پېښبې او د کونړ د سیند په غاړو او شاګانو د هغوی د ځینو کورنیو مېشته کېدل د کونړ سیند نامتوالی په ګوته کوي. د کونړ سیند په تاریخي اثارو کې د تل لپاره خپل لرغونتوب او اهمیت ساتلی دی او زموږ د ولسونو په ملي، کلتوري، فرهنګي او اقتصادي منابعو پوره اثر لري.

د کونړ سیند د ننګرهار د کامې ولسوالی سره د کابل سیند سره یوځای کېږي او د کابل د سیند په نوم شهرت لري، علت یې دا نه دی چې ګوندې د کونړ سیند کوچنی دی، بلکې یوازینی علت یې دادی، چې د کونړ سیند برعکس د کابل سیند اهمیت لري، چې د کابل کوچنی سیند ته یې دومره اهمیت ورکړی، چې د کونړ سیند هم د کابل سیند په نوم یادېږي.

د کونړ سیند په تاریخي اثارو کې په لاندې نومونو یاد شوی (راسا ) سید ، اسرور، هېوان، مهران، بیدام، کاشغر، یارقند ، یادکند ، چترال سیند ، لوی سیند ، حواپس، چوتل په نومو یاد شوی

## د کونړ د سیند سرچینه:

د کونړ سیند د (۴۰۰۰ ) مترو له لوړوالي ځخه د ختیځ هندوکش له بېخه د بروغیل د کوتله، چې د واخان او یاد کند- ایارقند وادې سره نښلوي سر چینه اخلي د دې سیند اوبه لومړی سر کې د ځو رودنو د اوبو دیوځای کېدلو وروسته چې د مخه یې نومونه واخیستل شول له اوچتو غرونو له لوړو ارتفاعاتو او سلسلو ځخه را ښکته کېږي او په تدریجي ډول سره زیاتوالی مومي او د اوبو زیاتوالی او په فوق العاده چټکتیا او غښتلي ځواک په ځیر خپل جریان ته ادامه ورکوي یا په بل عبارت د کونړ سیند د پامیر له لوړو سطحو ځخه، چې د (پشت خو ) د بیلتون نیاغ یو ځوکه ده، چې (دامور اکسوس) سیند سر چینه هم پکې ده د هماغه ځوکې د بلې ډډې ځخه راوتلی دی.



د کونړ سیند چې د کونړ ولایت وادي په منځ کې مست او یاغي روان دی د شمال ځخه تر جنوب پورې جریان لري، چې د کوچني پامیر ځخه شروع کېږي. دغه سیند لکه چې دمخه مو وویل یو بل رود چې د مهران کوچنی رود دی او هندوان (هندوکش) ځخه سر چینه اخلي، چې د همانان له حد او سیمې له مینځه او بلهاري ځخه تیرېږي.

په لنډه توګه چې د کونړ سیند د هندوکش له بروغیل له کوتله یعنې د پامیر هندوکش ځخه، چې دا همغه یشت خاد (ایشت خو ) غر دی. د سیلیون د غر د ځوکې له ختیځ اړخ ځخه سر چینه اخلي او بیا وروسته خپل مسیر ته ادامه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کونړ د سیند معاونین:

د کونړ سیندونه چې د کوچني رودونو څخه عبارت دي:

د کونړ سیند مخکې لرې، چې د چترال یعنې پامیر د ختیځې درې څخه را تېر شي د وارنوې په برخه کې د افغانستان پولې مهمې کرښې ته را ننوځي دیو شمېر رودنو څخه یې ترکیب موندلی دی، چې تر دغه ځای پورې دیارکند چترال په نوم نومول شوی.

د کونړ سیند نور معاونین عبارت دي له: لنډې سید، ښکوري رود، د نو آباد خوړ، هډوال خوړ، د باډیل درې خوړ، د دیوې گل درې خوړ، د ځوکۍ خوړ، پېچ سیند، وایگل سیند پادون سیند او داسې نور ډېر کوچنی او لوی رودونه د کونړ د سیند معاونین دي.

### دکونړ د سیند رنګونه

(بصیر بیدار ستوری)

بیـا د کــونړ ســیند پــه مســتیدو راغــی ګـډا کــوي
شــور کــوي، مســتي کــوي، څــه نــاز و ادا کــوي

وایــي چــې لعلونــه دې پراتــه زمــوږ ســیندونوکې
شــنه شــنه ځنګلونــه خزانــې لــري پــه غرونــو کــې

ورک دې هغــه څــوک شــي چــې دا ســتا د سرســودا کوي
هــره یــوه دره دې ده کــونړه ! د ویــاړونو کــور

دا زمــوږ جنــت زمــوږ د خــوب د تعبیرونــو کــور
ســتا آبــادي غــواړي هــر زلمــی درتــه دعــا کــوي

ای ګرانــه کــونړه ! ســتا د هــرې یــو درې نــه زار
دا محلــي مــانۍ ســتا د ګردونــو او کــوڅې نــه زار

ســتا د اوږي شــپه کــې ســپوږمۍ څــه ښـکلې رڼـا کـوي
ای ګرانــه کــونړه تــه تــاریخ د مېړنــو کــې

کــور د عالمــانو تــه ټــاټوبی د شــملو یــې
ســتا د کــونړ ســیند صــفت بیــدار ب خامخــا کــوي

### مشرق په پښتنو آباد دی

جنرال عبدالصمد مومند

دا چې آبـاد دی پـه ننګیـالو آبـاد دی
بــس پــه ښــکلا د لیونــو آبــاد دی

د ازمایښـت دی څـه حـد پـاتې نـه شـو
پښــتون زړګـی خـو پـه وعـدو آبـاد دی

جانانــه ســتا دیــاد لــه غمــه زار شــم
ژونــد مــې د څړیکــو پــه څپــو آبــاد دی

د انتظــار لمحــې شــمېرمه ناســت یــم
تلــوار مــې هــم پــه تســلو آبــاد دی

صــمد ه زار شــم لــه شــملو نــه د د دوی
خــدایږو مشــرق پــه پښــتنو آبــاد دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کونړ سید جمال الدین افغان پوهنتون د استاد محمد ریحم خاکسار سره مرکه

مرکه لیکونکی: سمیع الله خاکسار

پوښتنه: محترم استاذ صاحب که د هر څه د مخه د ستوري مجلې درنو لوستونکوو ته ځان ور وپېژنې خوښ به شو؟

ځواب: مننه زما نوم محمد رحیم خاکسار د مرحوم سید رحیم ځوی د کونړونو د ولایت د خاص کونړ د ولسوالۍ د کوزې اراځۍ د کلي اوسېدونکی یم فعلاً د سید جمال الدین افغان د پوهنتون د علمي مرکز غړی یم.

پوښتنه: د شخصي ژوند او عمر په هکله څه معلومات را کړئ؟

ځواب: د شخصي ژوند په اړه به ووایم، چې واده مې کړی د الله تعالی په فضل او کرم سره پنځه اولادونه لرم او اوس مهال ۲۷ کلن یم.

پوښتنه: محترم استاذ صاحب د زده کړې په اړه معلومات را کړئ؟

ځواب: ما په خپل ژوند کې دوه ډوله زده کړې کړې دي. یو خصوصي زده کړه ده او بله رسمي زده کړه ده، چې زیاتره خصوصي زده کړه مې په دیني علومو کې د هېواد څخه د باندې په ګاونډي هېواد پاکستان کې تر سره کړې ده، چې په ۱۹۹۸ میلادي کال د ګنج د مدرسې څخه فارغ شوی یم، چې د قرآنکریم د حفظ تر څنګ مې نور فنون هم لوستي. د مدرسې څخه چې فارغ شوم، نو سمدستي مې عصري زده کړو ته مخه کړه چې د خاص د کونړ په عالي لیسې کې شامل شوم، چې په ۱۳۸۲ هـ ش کال کې د دولسم ټولګي څخه فارغ شوم، چې په ۱۳۸۴ هـ ش کال کې د کانکور په ازموینه کې د ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې په پوهنتون کې شامل شوم او په ۱۳۸۸ هـ ش کې ترې په لومړې درجه فارغ التحصیل شوم. اوس مهال د لوړو زده کړو د وزارت لخوا د ایران اسلامي جمهوریت ته د ماستري بورسونو ته معرفي شوی یم، نو هیله ده چې دا امید مې هم پوره شي.

پوښتنه: محترم استاذ صاحب د خپلو دندو په اړه معلومات را کړئ؟

ځواب: ما د خپل ژوند په بهیر کې ډېرې دولتي او غیر دولتي دندې اجرا کړې دي، چې له دې جملې یې ځینې په لاندې ډول دي:

په ۱۳۸۲ هـ ش کال کې د خاص کونړ په لیسه کې د ښوونکي په توګه دنده تر سره کړې ده، بیا په ۱۳۸۴ هـ ش کال کې د ننګرهار ملي راډیو تلویزون کې د دیني خپرونو په ډیپارټمنټ کې په دنده وګمارل شوم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې وروسته له يو کال څخه د درس بوختيا له امله را څخه دنده پاتې شوه په ۱۳۸۲ هـ ش کال کې د عربي خيريه موسسې هبة الاعانه سره د مشاور په توګه دنده اجرا کړه، په کال ۱۳۸۸ هـ ش کې د خاص کونړ په عالي دارالمعلمين کې د استاذ په توګه مقرر شوم، چې ډېر زر د نوموړي دارالمعلمين د تدريسي مرستيال په توګه وګمارل شوم له نېکه مرغه کله چې په کال ۱۳۸۹ هـ ش کې د ښاغلي حامد کرزي په ځانګړي لورينه د سيد جمال الدين افغان پوهنتون کې د آزاد رقابت له لارې د نامذد پوهيالي په توګه په دنده وګمارل شوم، چې اوس مهال د تاريخ او جغرافيې څانګې امر په توګه تدريسي او اداري چارې تر سره کوم.

پوښتنه: څومره موده کېږي، چې د سيد جمال الدين افغان په پوهنتون کې د استاذ په صفت دنده تر سره کوې؟

ځواب: نږدې يو نيم کال کېږي، چې په نوموړي پوهنتون کې د استاذ په صفت دنده اجرا کوم.

پوښتنه: د پوهنتون د ودانۍ په اړه معلومات راکړئ؟

ځواب: څرنګه چې لږ وخت کېږي تاسيس شوې ده خپله ودانۍ نه لري او د کونړ د دارالعلوم په ودانۍ کې خپلې تدريسي چارې پر مخ بيايم له نېکه مرغه اوس مهال د دوو پوهنځيو د ودانيو چارې ډېرې په چټکه توګې سره روانې دي، چې يوه د ښوونې او روزنې د پوهنځی ودانۍ ده او بله د کرنې د پوهنځي ودانۍ ده، چې په دې نږدې راتلونکې کې په ګټه اخيستو ته چمتو شي.

پوښتنه: اوس مهال مو د زده کوونکو شمېر څومره دی؟

ځواب: اوس مهال مو د زده کوونکو شمېر د ۴۰۰ څخه زيات دی.

پوښتنه: اوس مهال څومره ښوونکي په تدريس بوخت دي؟

ځواب: اوس مهال قابو ۲۵ تنه ښوونکي په تدريس بوخت دي.

پوښتنه: اوس مهال د سيد جمال الدين پوهنتون کوم کوم پوهنځي لري؟

ځواب: اوس پکې درې پوهنځي دي، چې عبارت دي له د ښوونې او روزنې پوهنځی د زراعت پوهنځی او د شرعياتو پوهنځی لري.

پوښتنه: په اخره کې که څه پيغام لرې؟

ځواب: پيغام مې ټولو هېواد والو ته او په ځانګړې ډول محصلينو ته دادی، چې د ټوپک په ځای قلم په لاس کې واخلي او د خپل د هېواد په ودانولو کې برخه واخلي، چې ترڅو د خپل ژوندانه سطحه لوړه او د سيالو سره سيال شي.

محترم استاذ صاحب د ستوري مجلې اداره له تاسې څخه مننه کوي، چې سره له دومره مصروفيتونو مو له موږ سره مرکه وکړه او خپل قيمتي وخت مو خپلو ګرانو لوستونکوو ته وقف کړ.

ستاسو څخه هم مننه، چې د ستوري مجلې په خپرونه کې مو موږ ته دخپلو خيالاتو د اظهار موقع راکړه.

مننه

اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خاص کنړ د ولسوالۍ د پخواني ولسوال صاحب استاذ محمد حنيف (خيرخواه) سره مرکه

مرکه کوونکی: سميع الله (خاکسار)

①پوښتنه: محترم ولسوال صاحب که د هر څه د مخه د ستوري مجلې درنو لوستونکو ته ځان ور وپېژنې؟

ځواب: زه محمد حنيف (خيرخواه) د مولوي محمد زمان ځوی د کونړ د ولايت د ښوکۍ د ولسوالۍ اوسېدونکی يم، چې په ۱۳۵۲ هش کال کې زيږېدلی يم او فعلاً د خاص کونړ د ولسوالۍ د ولسوال په صفت دنده اجرا کوم.

②پوښتنه: محترم ولسوال صاحب که د خپلو زده کړو او عمر په باره کې معلومات راکړئ خوښ به شو؟

ځواب: ابتدايي زده کړې مې د ملا مزيد بابا په متوسطه کې تر سره کړې، کله چې روسانو زموږ په ګران هېواد افغانستان باندې يرغل وکړ او په کونړ ولايت کې خپلمنځي جنګونه د کوندونو تر مينځ شروع شو، نو موږ هم مهاجر شوو او د جلوزو په کمپ کې مو سکونت اختيار کړ او د اتحاد د عالي ليسې څخه فارغ شوم، چې په لړۍ کلونو کې مې تعليم تر ۱۴ پورې د اسلامياتو په څانګه کې بشپړ کړ او عمر مې نږدې ۳۹ کاله دی.

③پوښتنه: محترم ولسوال صاحب د شخصي ژوند په اړه معلومات راکړئ خوښ به شو؟

ځواب: دا چې په ۱۳۶۹ هش کال کې مې واده کړی دی تردې مهاله نهه اولادونه لرم، چې څلور هلکان او پنځه لورګانې دي.

④پوښتنه: محترم ولسوال صاحب تر اوسه مو کومې دندې اجرا کړې دي؟

ځواب: د باجوړ په کمپ کې د (**Best**) موسسې سره د ښوونځيو مکاتبو د مسئول په صفت د ۳۲ مياشتو لپاره دنده اجرا کړې ده، چې په همدې مهال کې د (۷۰۰) کورونو مهاجرينو مشرې مې هم په غاړه لرله. د دې ترڅنګ د مختلفو موسساتو او اينجوګانو سره مې دندې اجرا کړې دي او د مهاجرينو او موسساتو ترمنځ د ارتباطاتو مسئوليت هم په غاړه درلود، لکه د يونيسيار (اينټرساس) او د پاکستان حکومت تحصيل داری کله چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲۰۰۴) م کال کې خپل گران هېواد ته راستون شوم د گټهو په قلعه کې مې سکونت اختیار کړ، چې په ۱۳۸۲ هـ ش کال د ولایتي شورا مالي او عمومي مدیر په صفت، چې تر ۱۳۸۹ هـ ش کال پورې مې دا را سپارل شوې دنده اجرا کړه او همدارنگه په ذکر شوې نېټه د انتخاباتو د خپلواک کمیسون سره د عامه پوهاوي ولایتي ټرینر (Pot) افسر په صفت دنده اجرا کړه، چې په کال ۱۳۸۹ هـ ش کال کې د خاص کونړ د ولسوالۍ د ولسوال په صفت په دنده وگمارل شوم، چې ترې دې مهاله نوموړې دنده ته ادامه ورکوم.

⑤پوښتنه: محترم ولسوال صاحب څو مره موده کېږي، چې د خاص کونړ د ولسوالی د ولسوال په صفت دنده اجرا کوئ؟

ځواب: نږدې یو نیم کال کېږي، چې د خاص کونړ د ولسوالی د لسوال په صفت دنده اجرا کوم.

⑥پوښتنه: د خاص کونړ د ولسوای د تعمیر په باره کې معلومات راکړئ؟

ځواب: د خاص کونړ ولسوالی څلور تعمیرونه لري، چې دوه د ولسوالی او دوه د قومندانی تعمیرونه دي، چې د ولسوالی تعمیر په دوو منزلونو او د قومندانی تعمیر په یو منزل کې په پاخه او اساسي ډول جوړ شوی دی.

⑦پوښتنه: محترم ولسوال صاحب که د خاص کونړ د ولسوالی د پرسونل په اړه معلومات راکړئ؟

ځواب: ۳۴ کسان د ولسوالی ۴ کسان په څارنوالی کې کار کوي، سربېره پر دې ۱۸ کسان په امنیت ملي کې ۴ کسان په قضا کې ۱۰۲ په قومندانی کې او ۴۰۰ محلي پولیس ورسره د سرحدي پولیسو ۴ ټولی د ملي اردو د دوهم کنډک او د ائتلافي ځواکونو یو ټولی لرو.

⑧پوښتنه: محترم ولسوال صاحب د خاص کونړ د ولسوالی امنیت څنگه دی؟

ځواب: دا چې د خاص کونړ ولسوالی یوه سرحدي ولسوالی ده او د سرحد ټولې لارې خلاصې دي. سیمې خاردار (کمربند) نه لري، خو بیا هم د لوی الله فضل دی، چې امنیت په کامله توگه تامین دی او حالت نورمال دي. د شامکار نه تر منگوالی پورې بشپړ امنیت دی.

⑨پوښتنه: محترم ولسوال صاحب که د بیا روغونې په اړه راته ووایئ، چې په خاص کونړ کې د بیا روغونې پروژې شته او که نه؟

ځواب: تاسې پوهېږئ، چې د خاص کونړ په ولسوالی کې د جناب محترم شامحمود (میاخیل) په هلو ځلو د منگوال د لیسې څخه د بیا رغونې کار شروع شوی دی، چې په تېرو څلورو کلونو کې د سترگو لیدلای انکشاف را مینځ ته شوی دی، چې بېلگې یې د ولسوالۍ تعمیر، مکاتب، سرکونه، ویالې، سر بندونه، پلونه او داسې نور په گوته کولای شو.

⑩ پوښتنه: په نږدې راتلونکي کې کومې د بیا رغونې پروژې په لاس کې لری او که نه؟

ځواب: د کونړونو د ولایت د قدرمن والي جناب سید فضل الله واحدي په خاصه توجو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاملرنه دخاص کونړ په ولسوالی کې لاندې پروژې د کار لاندې دي. د سپين جومات تر ثنګ د مال منډي يا ميله بازار، د کاويږ سړک، د شامکار مکتب د احاطې د ېوال، په سر کې يې د اوبو حوضونه او د ويالو بندونه، د ولی د سړک پروژه، په بر سرای کې نری سړک، د چندراو عيدګاه، ددې سره سره د ملي پيوستون کارونه په مختلفو کليو کې روان دي.

⑪ پوښتنه: محترم ولسوال صاحب د خاص د کونړ د ولسوالی مشران درسره په امنيت کې مرسته او همکاري کوي او که نه؟

ځواب: د خاص کونړ ولسوالی ځو مختلفې پرمختيايي شوراګانې لري، لکه ټولنيزه پرمختيايي شورا، د DDi شورا، د علماؤ اصلاحي شورا، د CDD يا کليوالي شورا، چې دا شوراګانې د امنيت په برخه کې واقع مهم رول لري او د دې ولسوالی امنيت د مخورو علماؤ کرامو او مشرانو لخوا تاسيس شوي ده که څه هم يو متل دی. (غټې تيږې په وړو تيږو په دېوال کې ټيګيدالی شي)، نو همدغه وجه ده، چې که چېرته ولس د دولت سره همکاري ونه کړي، نو دولت په اصلاحاتو پاتې راځي.

⑫ پوښتنه: محترم ولسوال صاحب که په اخر کې د ستوري مجلې درنو لوستونکو ته څه پيغام لرې مهرباني وکړئ؟

ځواب: هر څوک چې د ستوري مجله لولي که په خارج کې دي او که په داخل کې دي غوښتنه مې داده، چې بايد خپل راتلونکی په نظر کې ونيسي، خپل مذهب او دين ته وفاداره و اوسېږي. خپلې خاورې، وطن، کلتور او عنعناتو ته د احترام په سترګه وګوري. د تعليم کچه لوړه کړي او سيالو هېوادونو سره د علم په واسطه ځان برابر کړي زيار وباسي چې نړۍ کې سيال او مخکښه افغانستان ولري.

په آخر کې د ستوري د مجلې څخه ډېره مننه کوم، چې زما پيغام يې هېواد والو او درنو لوستونکوو ته ورساوه.

د ستورې د مجلې اداره له تاسې څخه هم مننه کوي، چې سره له دومره مصروفياتو مو موږ ته خپل قيمتي وخت راکړ.

په درنښت

# ای زما خوږه هېواده

بصیر بیدار ستوري

ای زما خوږه وطنه
ته مې ځاله د زیږون یې
ته مې تن ته مې وجود یې
ته ټاټوبي د پښتون یې
ته مې مینه ته مې ساه یې
وسیله مې د ژوندون یې
ای زما گرانه هېواده
په تا څه وشو څه کېږي
هره دشته دې اور اخلي
هره یو سیند دی لمبه کېږي
کاڼي بوټي ځنگلونه
دي د جنگ اور کې سوزیږي
دښمن هیڅ اسره ونه کړه
زړه یې اوس هم نه یخېږي
خپل منځي جنگو تباه کړې
بیا غلیم درته گواښیږي
تور او سپین سره یو شوي
بیا څه چل دی څه به کېږي
ای زما گرانه وطنه !
ستا بچي ستا دښمنان دي
د اغیارو په ډالرو
وږي شوي دي لېوان دي
ستا په غوښو نه مړېږي
بس اخته په چور تالان دي
ستا د سر یې سوا کړې
تا به پلوري تجاران دي

ای زما گرانه هېواده
ستا زخمي وجود فریاد کړي
امن سوله له خدای غواړي
دا جنگونه چې را یاد کړي
په سلگو کې په ښیرو شي
دښمنان مې ټول برباد کړي
چې په ما ته سپک نظر کړي
هغه ټول ته نامراد کړې
ای زما گرانه وطنه !
ستا فریاد کله څوک اوري
لا یې زړه یخ شوی نه دی
دښمن اوس هم په مورچه دی
سره اورونه دي بلېږي
ستا بچي په کې سوزېږي
د پامیر نه تر بولانه
جنازې دي پورته کېږي
پښتانه په کې تبا شول
لا به نور هم تبا کېږي
جنگ به لر دی که په بر
خو پښتون په کې ورکېږي
مور بې وسه ناتوان یو
په ژړا مو زړه سړېږي
هر پښتون گوته په خوله دی
د بیدار زړه پرې خوږېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتون

استاد عمر پاڅون(جرمني)

پښتون دا سې په نړۍ کې يو تبر دی
چې که مشر دی که کشر پخپل سر دی
نيم سري په کې هيڅ چېرې نه ځايږي
ټول منونه که وي ښځه او که نر دی
هريو مړی يې په ښو سره يادېږي
خو ژوندی يې په دنيا کې در پدر دی
لالهانده د پيسو په ټوليدو دی
تعليم پرېږدي بې سواده بې هنر دی
پيسه دار يې بيا دوه درې ودونه کاندې
اميرانو نه يې بيا ورک کور او دفتر دی
خپل خدمت ته بلا والي ملا ماتي
خو پرديو ته يې وهلی بيا ټټر دی
ښکيلاکگرو دي ويشلي په قومونو
ويشل شوی دا ملت په لرو بر دی
د سنگر او د مورچل لوی قهرمان دی
خو په سوله کې ترې ورک لار او گودر دی
په ملي گټو هيڅکله را ټول نشول
د هر مشر يې پخپل کور باندې نظر دی
د پښتو او د اسلام ناري کړي پورته
خو په دواړو کې يې خوړلی خپل ځگر دی
يو ملي قايد يې قوم کې پيدا نه کړو
کس ناکس ته وايي همدا زما ليډر دی
خپل ولس د تباهۍ کندې ته سيخ کړي
ځکه دا چې تالي څټي دي غلام دبل نوکر دی
د پردو په اوږو بار راشي وطن ته
بيا ځان بولي چې همدې د قوم رهبر دی
خپل قوم څه کړي ملت او وطن څه کړي
چې مين نن په پيسو دی په ډالر دی
چې د دوه روپو خاوند شي په دنيا کې
ځان ترې ورک شي و آسمان ته يې نظر دی
د کار پيل په بې غورۍ وکړي يارانو
وروستی عقل يې بيا راغلی پخپل سر دی
په يووالي او اتفاق کې صلاح نشول
بې اتفاقۍ کې دغه قوم اول نمبر دی
خپلې ښځې او لوڼې کښېنوي په کور کې
وايي خان دی نواب او معتبر دی
که کوم ورور يې پخپل ژوند کې کامياب وي
دا بل ورته حاسد ، بعض گر دی
لويي نه پېژني چې څه کې ده يارانو
هر مجلس کې بس په باتو باندې سر دی
نه څه اوري نه څه لولي پخپل ژوند کې
سياست کې په هر څه باندې خبر دی
خو ، بلواک نه مني خپلواک دی پاتې شوی
خپلواکي که ازادي ده استقلال د ده کلچر دی
هر غليم يې تمبولی او شړلی له خپل خاورې
استعمار ته نيغ ولاړ دی او چت غر دی
پښتنو ته نور دوعا د هدايت کوي پاڅونه
چې هرڅه دی بيا هم ستا د زړگي سر دی
ميلمه پال دي ، وطن پال او اسلام پال دي
ځکه گران چې نن پر ما پاڅون عمر دی

## زه به ځم افغانستان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لايق زاده لايق

تـر څـو بـه مهاجر يم، پـروت بـه داسـې در پـه دريم
بـې منزلـه بـه ترکـومې، زه روان کـډه پـه سـر يـم
يـوه ورځ بـه مـې دردونـه حـال دزړه وايـي ارمـان تـه
زه بـه ځـم افغانسـتان تـه، زه بـه ځـم افغانسـتان تـه
"جرمني" دی که "هالنډ" دی، که دی "فرانس"، "سويزرلينډ" دی
که "بلجيم" دی که "ډنمارک" دی، که "سويډن" دی که "انګلينډ" دی
دغـه واړه کلـه رسـي ګـران کـونړ او بدخشـان تـه
زه بـه ځـم افغانتسـان تـه، زه بـه ځـم افغانسـتان تـه
"کانـاډا" کـه "امريکـا" ده کـه "نـاروې" کـه "افريقـا" ده
کـه دې "چکوسـلواکيا" ده کـه "پولنيـد" کـه "اسـترليا" ده
ټـول لـوګی شـه پـه څـو وارې قنـدهار تـه هـم لغمـان تـه
زه بـه ځـم افغانسـتان تـه، زه بـه ځـم افغانسـتان تـه
زه چـې چېرتـه هـم اوسـېږم، د وطـن خوبونـه ويـنم
د دنيـا پـه هـر ښايسـت کـې، د خپـل تـن رنګونـه ويـنم
بـې صـبري د هـر نظـر مـې، پـه خيـر وايـي ټـول جهـان تـه
زه بـه ځـم افغانسـتان تـه، زه بـه ځـم افغانسـتان تـه
دغـه خـرې پـرې خـاورې، راتـه ګرانـې لـه سـرو زرو
دغـه کـاڼي کـاڼي غرونـه، ډک د سـپينو ملغلـرو
د کابـل لارې بـه ښـکل کـړم، غېـږ بـه ورکړمـه پغمـان تـه
زه بـه ځـم افغانسـتان تـه، زه بـه افغانسـتان تـه
کـه مـې زړه جـلال آبـاد دی، نـو نظـر زمـا پنجشـير دی
کـه مـې حسـن ننګرهـار دی نـو هـرات ګـل د نيمـروزدی
احتـرام لـرم پـه زړه کې،هـر پښـتون او هـر افغـان تـه
زه بـه ځـم افغانسـتان تـه، زه بـه ځـم افغانسـتاته
يـه دآمـن دعويـدارو، زمـا کـور دآمـن کـور کـړئ
نوروحشـت مـې پـه کـار نـه دی، پرهرونـه مـې ټکـور کـړئ
داآواز کـوم ((لايقـه)) د وختونـو هـر کـاروان تـه
زه بـه ځـم افغانسـتان تـه، زه بـه ځـم افغانسـتان تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غوړي (Fat) کلسترول

ډاکټر رحمان شاه مومند (امریکا - کلفورینا)

غوړي د بدن د ضروریاتو څخه یو مهم مواد دی او له دوه ترکیبي مادو څخه چې کلسترول او ترې گلسیرآید نومېږي جوړ شوی دی زموږ بدن د ضرورت وړ غوړي د نورو دوه غذایي گروپونو څخه لکه کاربو هایدارېت او پروټین څخه جوړوي او د هغو غوړو څخه یې چې د خوارک سره بدن ته داخلېږي فرق یې وپېژندل شي.

د غوړو هغه یوه برخه کومه چې د خوړو سره بدن ته داخلېږي زموږ بدن یې د ضرورت په اساس په مصرف رسوي، نو که چېرې د ضرورت څخه زیات غوړي وخوړل شي هغه په بدن کې ذخیره کېږي څه وخت چې غوړي د ضرورت نه کم بدن ته داخل شي نو د ذخیره شوو غوړو څخه بدن استفاده کوي، نو په همدې وجهې سره د بدن غوړي کمېږي.

زموږ بدن د خپلو فعالیتونو د سرته رسولو لپاره انرجي ته ضرورت لري، چې دا انرجي د مختلفو خوړو څخه لکه پروتین، غوړي او کاربوهایدریتو څخه لاس ته راوړي.

کلوري ۱۲٪ د پروتین ۳۰٪ د غوړو او ۵۸٪ د کاربوهایدریتو څخه په لاس راځي. بله سروي ۱۲٪ پروتین، ۴۲٪ د غوړو او ۴۲٪ د کاربوهایدریتو څخه حاصلېږي. غوړي د دوو مادو څخه جوړ شوي دي.

۱- ترې گلیسر اید.Triglycerides

۲- کلیستیرول.

۱- Triglycerides ترې گلسرایدز د غوړو یوه مهمه برخه جوړوي او په بدن کې د انرجی لپاره استعمالېږي دې ته شحمي تیزاب ( Fatty acid ) هم وایي او په درې ډوله پیدا کېږي.

A - مشبوع شحمي تیزاب:
(A Saturated A Fatty acid)

B- لږ نامشبوع شحمي تیزاب
(Monoun Saturated Fatty Acid)

C – ډېر نامشبوع شحمي تیزاب
( Polyun Saturated Fatty Acid)

مشبوع غوړي هغه دي، چې د کوټې د حرارت په درجه جامد پېږي د کوچو غوړي ۵۹٪ او د غویي وازده (غوړي) ۵۴٪ مشبوع شحمي تیزاب لري او د کوټې په حرارت کې جامد وي.

حیواني غوړي په زیاته پیمانه مشبوع شحمي تیزاب لري او نباتي غوړي ډېر غیر مشبوع (مونو غیر مشبوع، پولي غیر مشبوع) شحمي تیزاب لري. کوم خواړه چې Saturated Fats زیات لري او وخوړل شي دې سره دوینې کلسترول زیاتېږي او هغه خواړه چې غیر مشبوع غوړي Unsaturated Fats ولري او وخوړل شي، نو په دې عمل سره د وینې د گلسترولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندازه را ټیټېږي. نباتي غوړي Sterols سټرول لري او سیټرول د انسانانو د جهاز هاضمې له خوانه جذبېږي.

# کلسترول

# (Cholesterol)

کلسترول یوه غوړه او حیاتي ماده ده، چې د وینې پواسطه (سره) په ټول بدن کې ګرځي او مهم رول او زیاتې وظیفې د کلسترولو په مرسته سرته رسېږي.

① د بدن د ټولو حجراتو په غشايي (Cell Membrane) ساختمان کې پوره ونډه لري، یعنې د حجرې غشا د ٪۲۰ پروټینو او ٪۴۰ کلسترونو څخه جوړه شوې ده، همدارنګه د حجراتو او عصبي مزو چارپیره د کوټ په شکل یو پوښ جوړوي، چې په دې صورت کې حجرات د نهربي، حرارت او نورو صدمو څخه ساتي او د هغوی دفاع کوي. همدغسې کلسترول حجراتو ته نرموالی (Fluidity) وربښي، چې حجراتو ته د انبساط او انقباض خواص (Flexibility) ورکوي. په دې صورت کې حجرات مضبوط او باثباته کېږي او د حوادثو په تعامل کې د دفاع توان مومي.

② د کلسترول څخه بدن د هغو ویټامینو په جوړېدو کې چې په غوړو کې د منحل کیدو قابلیت ولري کار اخلي دا ویټامین عبارت دي له A, D, E او K څخه.

③ بدن (body) د سټروید او (Sex) سکس هورمونو په تولید کې هم د کلسترولو څخه استفاده کوي.

Aldesteron ، Cortisone ، Cortisol ، Steroid Hormones ، Progesterone ، Estrogen Testosterone ، Sex Hormones

④ ((body)) وجود د بایل اسید په تولید کې هم د کلسترولو برخې اخیستو ته هم ضرورت لري. بایل اسید د بایل په ترکیب کې په اینه ((Liver)) کې تولیدېږي بیا بایل وړو کولمو ((Small inte)) ته ځي او تجزیه کېږي د بایل اسید په مرسته د وړو کولمو د محتویاتو (حل شوي غذا) څخه ټول غوړ هلته جذبېږي او اینې ته ځي.

⑤ د ګلسترولو په وجهه حجرات د انفکشن په مقابل د ځان دفاع کوي.

⑥ د کلسترولو په وجهه هډوکي او عضلات تقویت او توان مندي حاصلوي.

⑦ د ګلسترولو بل مهم رول دادی، چې د مغز د حجراتو په غشايي ساختمان کې پوره برخه لري او د جنینو په لوییدو کې هم زیات رول لوبوي.

څرنګه چې تری کلیسرایډ او کلُسترول غوړ دي، نو په وینه کې لاینحل او آزاده توګه ګرځیدلای نه شي. د بلخوا کلُسترول د پروټین سره یو ترکیب (ارتیکل) جوړوي، چې د لیپو پرټین (Lipoprotein) په نامه یادېږي، چې په وینه کې د ګرځیدو قابلیت لري او دا ارتیکل په دوه ډوله دی.

① High Density lipoprotein (HDL) (د زیات غلظت لیپو پروټین)

② Low Density Lipoprotein (LDL) (د لږ غلظت لیپو پروټین)

د ښه بد کلسترول وایي.

سره له دې، چې کلسترول زیاتې فایدې لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مخ کې ذکر شوي، نوکه د کلسترولو اندازه په وينه کې د خپل حد څخه تجاوز وکړي زيات مهلک مشکلات را منځ ته کوي.

که چېرې د بدو کلسترولو اندازه د خپل حد څخه زياته او دښو کلسترو (HDL) اندازه د خپل حد نه کمه شي په تدريج سره د باريکو شيريانو په داخل کې بد کلسترول نښلي يعنې ترسب تراکم کوي او اتروما (Atheroma) جوړوي، چې د شيريانو دې مشکل ته (Atherosclerosie) وايي.

د ايترو سکليروز سره د شيريانو حجم تنګ او کله نا کله يې بندولای هم شي چې د دې مشکل د واقع کيدو د ځای په مطابق د (Cardio-Vascular Diseases) کارډيو وسکولار امراض او ستروک (Stroke) منځ ته راځي. يعنې که شيريان په قلب کې بند شي قلبي حمله او که مغز کې وي، نو (Stroke) واقع کېږي.

د اترو سکلروز په وجهه شيريانونه تنګېږي او د انسباط قابليت د لاسه ورکوي. دې سره د وينې فشار لوړېږي، چې دا هم د (Cardio-Vascuiar) د امراضو او (Stroke) عمده سبب دی

د شيريانونو د بنديدو سره د وينې جريان قطع کېږي، چې په نتيجه کې اکسيجن او غذايي مواد (Nutrients) حجراتو ته نه رسېږي، پس د يو څو دقيقو څخه هغه حجرات مړه کېږي که محل د واقعي د زړه په عضلاتو کې وي هغه ته (Heart Attack) يعنې قلبي حمله او که په مغز کې وي (Stroke) يا مغزي حمله وايي. د ۱۰٪ عمومي کلسترولو په کمېدو سره د قلبي شيريانو او مغزي ناروغيو اندازه ۳۰٪ کمېږي.

د پورتنيو ذکر شوو ناروغيو عمده علت بد کلسترول (LDL) دي، ځکه LDL د شيريانونو په داخل اړخ کې ((تراکم)) کوي يعنې نښلي او هغه تنګ او يا بندوي نو ديته ځکه بد کلسترول وايي.

د LDL کلسترول د ۱٪ په کميدو سره (Cardio-Vascular) او (Stroke) ناروغی ۲٪ را کمېږي.

HDL کلسترول د دې کلسترولو عمده خواص دادی، چې په شيريانو کې نښتي مواد وباسي او لرې کوي او شيريانونه پاک و صافوي، نو ځکه ديته ښه کلسترول وايي.

د ۱٪ په اندازه په وينه کې د HDL په کميدو سره د زړه شيريانونو او د مغزي ناروغيو اندازه ۲-۳٪ زياتېږي.

د عمومي کلسترولو LHL, HDL اندازه او تاثير يې په جدولو کې وګورئ.

# Charts Of .....

| Total Cholesterol Level | | | HDL (good Cholesterol) Level | |
|---|---|---|---|---|
| Less than ۲۰۰ mg/dl | Desirable | | Less than ۴۰ mg/dl | High Risk For H. Disease |
| | Border Line | | | Less Risk For |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲۰۰-۲۳۹ mg/dl | Risk For H.Disease | | ۴۰-۵۹ mg/dl | Heart Disease |
| ۲۴۰ mg/dl or more | High Risk For Heart Disease in Stroke | | ۲۰ mg/dl or more | Desirable |

| Triglycerides | | | LDL (Bad Cholesterol) | |
|---|---|---|---|---|
| Less than ۱۵۰mg/dl | Normal | | Less than ۱۰۰mg/dl | Optional |
| ۱۵۰-۱۹۹mg/dl | Border line High | | ۱۰۰-۱۲۹mg/dl | Near Optional |
| | | | ۱۳۰-۱۵۹mg/dl | Border line High |
| ۲۰۰-۴۹۹mg/dl | High | | ۱۶۰-۱۸۹mg/dl | High |
| ۵۰۰mg/dl or more | Very High | | ۱۹۰mg/dl more | Very High |

**Cholesterol Total HDL** نسبت په زياتيدو او کميدو سره د قلبي او مغزي ناروغتياو خطرات کمېږي او زياتېږي د مثال په ډول:

$$\frac{HDl}{Total\ Cholester} = \frac{1}{4}\, Desireable$$

$$==\ ==\ \frac{1}{5}\, less\ \ risk\ for\ heart\, disease\, and\ stork$$

**Less than** $\frac{1}{5}\, High\ Rosk\ For\ HD\ and\ Stroke$

## د کلسترولو منابع:

① **Lever** اینه ۸۰٪ د ضرورت وړ کلسترول پخپله (**Lever**) اینه تولید وي او په مصرف يې رسوي.

② دوهمه منبع د کلسترولو غذا ده کومه، چې موږ يې خورو او ۲۰٪ کلسترول د خوارکي غذاو څخه بايد لاس ته راشي.

کلسترول په زياته پيمانه په حيواني غوړو او هغه خواړه چې حيواني غوړي ولري پيدا کېږي او هغه په لاندې ډول دي.

(پنير، د هگی ژېړ، د غوايانو، پسونو، خوږ) او چرگانو د خوړو يعنې د کلسترولو ... د غوړو د کلسترولو په مقابل کې ډېر کم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشبوع او تراسس غوړي په معلومداره توګه د کلسترولو اندازه په وينه کې زياتوي، چې همدا د کلسترولو د زياتيدو عمده علت ګڼل کېږي.

د کلسترولو د زياتيدو علتونه:

① هغه علتونه چې ثابت او د کنترول وړ ندي او د کلسترولو د زياتيدو سبب ګرځي دادي:

◈ جنس: د ښځو په نسبت د زياتو نارينه و د وينې کلسترول لوړېږي.

◈ عمر: نارينه د **۴۵** کلنۍ نه وروسته او ښځې د **۵۵** کلنۍ نه وروسته په دې مشکل مبتلا کېږي که د ښځو د **۴۵** کلنۍ تر مخه حيض بند شي دا هم د کلسترولو د زياتيدو سبب کېږي.

◈ نژاد د (**Race**) تورو نژادنو په نسبت د افريقا، امريکا او هندين امريکايي زيات کسان د کلسترولو په لوړېدو مبتلا کېږي.

② د کنترول وړ سببونه چې د وينې کلسترول زياتوي.

◈ د غوړو خوړو ډېر خوړل.

◈ د مشبوع غوړو ډېر خوړل د کلسترول دلوړېدو عمده او مخکښ سبب دی.

◈ صحي حالتونه: ډيابيټ، چاغوالی، د وينې لوړ فشار او هم **Stress** يا ذهني فشار

◈ فزيکل غير فعال ژوند د **Exercise** نه کول.

◈ زيات وزن.

◈ سګريټ څکل يا کشول.

## د کلسترولو علاج او په طبعي اندازه کې د هغه ساتل:

په وينه کې د کلسترولو د اندازې د ساتلو لپاره د ځينو اقداماتو او تدابيرو سرته رسول ډېر ضروري دي.

**A**– د هغو خطرناکو فکتورونو کوم، چې د کلسترو په زياتيدو کې برخه اخلي مخه ونيول شي او هغه فعاليتونه اجرا شي د کومو سره چې کلسترول په خپل حد کې قايم پاتې کېږي او هغه په لاندې ډول دي.

۱. د سګريټو پرېښودل.
۲. په منظم ډول سره اکسرسايز (سپورټ) کول.
۳. په منظم ډول ډاکټر ته تلل او د هغه په هدا ياتو باندې عمل کول.
۴. د زيات وزن کمول.
۵. د صحي غذا خوړل. په خوراک کې تازه ميوه، سبزيجات سبوس داره ډوډی، د ماهي او چرګانو غوښې چې غوړ او پوستکی ونه لري زيات استعمال شي.
۶. د مشبوع غوړو څخه ډډه کول.
۷. هغه خواړه کوم چې کلسترول زيات لري لږ وخوړل شي يعنې په ورځ کې هغومره خواړه وخوړل شي، چې د کلسترولو اندازه يې د **۳۰۰mg** څخه زياته نه شي. دا اندازه د هغو خلکو لپاره ده د کومو چې بد کلسترول نورمال وي او قلبي مشکلات ونه لري. کوم کسان چې په قلبي ناروغيو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبتلا او بد کلسترول یې لوړ وي هغوی باید هغو مره غذا وخوري چې د کلسترولو اندازه یې په ورځني خوراک کې د **۲۰۰mg** څخه زیاته نه شي.

۸. تولې هغه ناروغۍ چې د کلسترولو د زیاتیدو سبب کېږي معالجه شي او پاتې مخه ونیول شي د مثال توګه: ډیابیټ، فشار (**Stress**) چاغي، د وینې لوړ فشار (**H.B.P**)

۹. د زیاتو مایعاتو بالخصوص د اوبو څکل (۱۰ ګیلاسه) ډېر ضروري دي.

**B** – د ډاکټر د هدایت سره د کلسترولو د دواګانو استعمال که ډاکټر یې لازم وګڼي.

د اترو سکلروز په وجهه شیریانونه تنګېږي او د انبساط قابلیت د لاسه ورکوي. دې سره د وینې فشار لوړېږي، چې دا هم د **Cardio-Vascular** د امراضو او **Stroke** عمده سبب دی. د شیریانونو د بندیدو سره د وینې جریان قطع کېږي، چې په نتیجه کې اکسیجن او غذایي مواد (**Nutrients**) حجراتو ته نه رسېږي. پس د یو څو دقیقو څخه هغه حجرات مړه کېږي که محل د واقعې د زړه په عضلاتو کې وي هغه ته ( **Heart attack**) یعنې قلبي حمله او که په مغز کې وي **Stroke** یا مغزي حمله وایي.

د ٪۱۰ عمومي کلسترولو په کمیدو سره د قلبي، شیریانو او مغزي ناروغیو اندازه ٪۳۰ کمېږي.

د پورتینو ذکر شوو ناروغیو عمده علت بد کلسترول ((**LDL**)) دی، ځکه ((**LDL**)) د شیریانونو په داخلي اړخ کې ((تراکم)) کوي یعنې نښلي او هغه تنګ او یا بندوي، نو دیته ځکه کلسترول وایي.

د **LDL** کلسترول د ٪۱ په کمېدو سره **Cardio-Vascular** او **Stroke** ناروغۍ ٪۲ را کمېږي.

**HDL** کلسترول د دې کلسترولو عمده خواص دادی، چې په شیریانو کې نښتي مواد وباسي او لرې کوي او شیریانونه پاک او صافوي، نو ځکه دیته ښه کلسترول وایي.

د ٪۱ په اندازه په وینه کې د **HDL** په کمېدو سره د زړه شیریانونه او د مغزي ناروغیو اندازه ٪۳-۲ زیاتیږي. د عمومي کلسترولو **HDL** ، **LHL** اندازه او تاثیر یې په جدولو کې وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښاغلي حافظ الله کاموال سره مرکه

## مرکه کوونکی: سمیع الله خاکسار

پوښتنه: که د هر څه د مخه د مجلې لوستونکو ته ځان معرفي کړې خوښ به شو؟

ځواب: مننه! زما نوم حافظ الله کاموال د عبدالاحد مجددي ځوی په کال ۱۳۶۰ هـ کې د کامې ولسوالی د شیرګړ په سیمه کې زیږیدلی یم.

پوښتنه: شاعري ته مو څومره وخت کیږي، چې مخه مو ورته کړې که په دې لړه رڼا واچوئ؟

ځواب: ما تقریباً په ۱۳۸۲ هـ ش کې د شاعرۍ په نړۍ قدم ایښی دی. شاعري یو الهي الهام دی. زه د الله تعالی نه په دې ډېر شکر ګذاره یم.

پوښتنه: تعلیم مو تر کومه حده او چیرته کړی؟

ځواب: تعلیم مې تر دولسم د محمد موسی شفیق په لیسه کې کړی او اوس د اریانا پوهنتون د حقوقو د ځانګې د دویم کال محصل یم.

پوښتنه: د شعرونو کوم کتاب مو چاپ کړی او که نه؟ که مو چاپ کړی وي څه نوم یې دئ؟

ځواب: هو! د شعرونو کتاب لرم، چې نوم یې



دی ((اوښکې په ډالۍ کې)) د چاپ په ګانه سمبال شوی.

پوښتنه: ډرامې مو څومره لیکلي او یوازې مو د راډیو لپاره لیکلي او که بل چاته مو هم ورکړې؟

ځواب: په دې اړه باید دومره و وایم چې د ننګرهار ملي راډیو تلویزون څخه چې دوستانو اوریدلي د همت داستان، چغې داستان، د شکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نوم ډارمه او د ګلا آغا شيرزي د ژوند مستند فلم ما او محمد ظاهر ساپي په ګډه ليکلی.

پوښتنه: هغه خپرونې چې ته ورته په راډيو ننګرهار کې کار کوې څه نومونه يې دي؟

ځواب: خپرونې په ننګرهار راډيو کی، راډيو ستاسو په خدمت کې په تلويزيون کې ستاسو کلی، ستاسو دود خپرونې پر مخ بوځم.

پوښتنه: په کامې ولسوالۍ کې مو فرهنګي کارونه څنګه دي؟

ځواب: په لومړي قدم کې ډېر ښه وم خو اوس د شخصي اعراضو ښکار شوي.

پوښتنه: په شاعرۍ کې تاسو کوم فورم ته ډېر کار کړی؟

ځواب: هغه څه چې زما مينوال يې خوښوي او د وخت ضرورت وي هغه شاعرۍ ته کار کوم لکه، غزل، داستان وغيره.

سوال: تر اوسه خو د چا تر انتقاد لاندې نه يې راغلی؟

ځواب: اکثره وخت د توصيف نه انتقاد ته ډېر زړه ښه کوم، ځکه چې انتقاد د اصلاح يوه ښه لاره ده.

سوال: څومره وخت کېږي، چې له ننګرهار راډيو سره کار کوئ؟

ځواب: په ۱۳۸۴ هـ کال کې ننګرهار ملي راډيو ته راغلی يم. د يادونې وړ ده، چې سردار پوپل را سره ډېره همکاري کړې ده.

سوال: د راډيو تر څنګ که نور خپل مصروفيات راته ووايا ست؟

ځواب: د کامې د فرهنګي ټولنې مرستيال، د کامې د قومي ټولنې مرستيال، د اباسين راډيو د نشراتو مسئول، د قبايلو د چارو د رياست مطبوعاتي مسئول او دا سې نورې دندې مې مخې ته بولي.

ځواب: ښه شعر کوم شعر ته ويلی شو؟

ځواب: هغه شعر چې ولس ته په کې يو ښه پيغام پروت وي او په زړونو حاکم وي همغه ښه شعر دی.

سوال: په آخر کې که کوم پيغام لرې مهرباني وکړئ؟

ځواب: په آخر کې د ستوري د مجلې قدرمنو کار کوونکو ته او کتونکو ته د زړه د تله مينه او اخلاص ډالۍ کوم او د خپل وطن په آبادۍ کې دې په پوره اخلاص ونډه واخلي او د خپل مور پلار عزت دې وکړي.

د حافظ الله کاموال د شعر بيلګې:

زما ديو کال اراده ده
که تبليغيان مې ديار کلي ته ليږينه
په سوال زاري باندې پوهيږي کله
د ښکلو زړه په چا خوږيږي کله
دب په درد باندې دردېږي کله
ځواني برباد کړه پرې حافظ کاموال
لاسونه مه وروړی راستنېږي کله

بله بيلګه:

دا ښکلي ښکلي دي لونګ د کلي
والله پرې جوړ دی زموږ رنګ د کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تشدد او عدم تشدد

## مبارز ځاپی



له بې ځایه زور او ځواک کارولو ډېره کول.
له تاوتریخوالیو ځان ژغورل.
د سولې او روغې د سیورې لاندې اوسېدل.
په خپله رښته او برخه کې بسیاینه
او پر نورو خلکو نه بلوسېدل

دا د انساني خویونو د ښېګڼو هغه څو توکي دي، چې په شلمه پېړۍ کې د هند په نیمې وچې کې د ګاندهي جي او د پښتنو د ستر لارښود خدای بښلي پاچا خان (خان عبدالغفار خان) له خوا د انګلیس د استعماري ځواک د ړنګلو په مبارزه کې وکارول شوې.

دغه د تاوتریخوالی، بلوسېدنو او وژنو څخه د ډډه کولو چلند یوازې په شلمه پېړۍ کې نه وه، چې را مینځته شوي او کارول شوي، بلکې د ځمکې پر مخ لومړی انسان حضرت آدم علیه السلام او حوا د ځوی (هابیل) له خوا د نه تاوتریخوالي او نه بلوسیدنې غوره خویونو پر سر د خپل سرښندنو او د خپل ژوند بښلو د پېښې کیسه به هم هر چا لوستلې یا د هر چا تر غوږونو رسېدلې وي.

د رښتیاو پر ویلو ټینګار او له تاوتریخوالیو نه ډډه کول چال چلند لا د نوح علیه السلام په ټول ژوند کې هم پلي شوي دي، یعنې د انساني ټولنې دوم بابا، چې نوح علیه السلام نو میږي هم څه کم زر کاله خپل ولس ته له زور زیاتي نه پرته او په سوله ایزه توګه یوه خبره کوله، چې ((خدای یو دی او نوح یې استازی دی))

نوح علیه السلام په دې څه کم زور کلونو کې که هرڅو مره خپل ولس له خوا ووهل شو، ورټل شو او وځورل شو، خو له خپله هوډه وانه وخت، تل به یې په سوله ایزه توګه خپل پیغام او را وه. له چانه به یې که هر څومره کنځلې اوربدلې هم مخ نه اړاوه، او هیچاته به یې د تشدد په ژبه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړنه غبرګون نه ښوده.

له حضرت نوح علیه السلام نه وروسته د تاریخ د اسنادو پر مخ ((بودا)) دی، چې د ځمکې پر مخ یې د نه تاوتریخوالي غوره انساني پیغام لا خپلو پلویانو او لارویانو ته په ځلانده ټکیو کې وړاندې کړی دی. په همدې توګه په ابراهیمي ملت کې نه یواځې دا چې په خپله ابراهیم علیه السلام د نمرود په وړاندې خپله بلنه په سوله ایزه توګه اوروله، چې له هغه وروسته موسی علیه السلام هم د فرعون په دربار کې خپله بلنه په سوله ایزه توګه وړاندې کړې ده.

له حضرت موسی علیه السلام نه وروسته بیا حضرت عیسی السلام هم د ځمکې پر مخ د ژوند تر وروستنۍ شیبې پورې د نه تاوتریخوالي او نه زور زیاتي پر غوره شوې لارې یون لرلی او له خپلو پلویانو څخه یې غوښتني دي چې:

((*که چا په څپېړه د مخ پریوه خوا ووهلی، د مخ بله خوا هم ورته واړوه، خو چې تریخ غبرګون ونه ښیې*))

د همدې غوره انساني خوی له مخې وه، چې حضرت عیسی علیه السلام او د هغوی ملګریو تر صلیبه پورې هم کوم تریخ غبرګون ونه ښوده، مګر خپله ناره یې چې ((خدای یو دی او عیسی یې استازی دی)) په لوړ آواز له خولې ویستله.

د حضرت نوح، حضرت موسی، حضرت عیسی علیه السلام او بودا د زمانې د زور او ځواک د خاوندانو هرې کړنې ته په پام که څوک هر څومره د لرې پوهې خاوند وي بیا هم دې باور ته رسیدلی شي چې:

((د ځواکمنو زورواکانو په مخه کې یواځې د نه تاوتریخوالي لیاره ده، چې سړی تر خپلې موخې پورې رسولی شي، د نمرود په مخه کې د حضرت ابراهیم علیه السلام ودریدنې یواځې په سوله ایزه توګه او د نه تاوتریخوالي له لیارې د حق او رښتیا د ویلو په ملاتړ ټینګار ښودل و او بس))

دغه لړۍ لا تر ننه پورې پای ته نه ده رسېدلې پر له پسې غزیدلې وده یې کړې او د سیمې د ولسونو په منځ کې، چې کله هم کوم رښتینې لاره ښوونکی راغلی د هغه له خوا د نیا ومنۍ د نه بلوسیدنو، د نه تاوتریخوالي او په رښتیاو باندې د ټینګار پیغام د انساني ټولنې د ژوند د ښیګڼو په توګه اورول شوی دی.



د مثال په توګه که چېرې موږ د رښتینو انسانانو په ډله کې د حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم ژوند او مبارزو ته د قرآنکریم د سپیڅلو آیاتونو په رڼا کې ځیر شوو وبه پوهېږو، چې د هغوی په لیار ښوونو کې د وحې د پیل له ورځې څخه بیا د مدینې منورې په لور د هجرت او په مدینه کې تر میشتیدلو پورې څو چې دیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



غښتلي دفاعي سنگر ثښتن شو، يواځې په دې وينا ټينگار شوی، چې ((خدای يو دی او محمد يې استازی دی))

نور نو تر مدينې پورې د دښمن په وړاندې د تريخ غبرگون د نه ښودلو پر دريځ باندې کلکه ودريدنه پاينښت موندلی، خو چې کله په مدينه منوره کې د اسلام د دين پيغمبر لپاره غښتلي دفاعي سنگر را مينځته شو د دفاع سره يو ځای د قتال امر هم راغی.

په دې توگه حضرت محمد صلی الله عليه و السلام د ژوند په دوه برخو کې يعنې له وحې نه رومبی او له وحې نه په ورستو مهالونو کې تر مدينې د ميشتيدنې پورې لا له بودا او حضرت عيسی عليه السلام نه هم ډېر زيات پر نه تاوتريخوالي ټينگار ښودل شوی دی، يعنې ټولو هغو مؤمنينو، چې د اسلام د دين د غوره کولو په تور نيولی شوي، تړل شوي، ځورول شوي او وژل شوي وو، يواځې يوه خبره کوله چې ((*خدای يو دی او محمد يې استازی دی*))

له دې پرته د هغوی لخوا بل کوم دفاعي غبرگون نه دی ښودل شوی. دا ځکه چې هغوی ته نه يواځې د نه تاوتريخوالي امر شوی و، چې د زور او ځواک له کارولو هم د ډډه کولو دنده ور په غاړه اچول شوې وه.

د دې خبرې يو دليل دا هم کيدلی شي، چې په هاغه مهال کې هغوی د دې جوگه نه وو، څو د قريشو په مخه کې د تريخ غبرگون په ښودلو د ځان ژغورلو سره يوځای د اسلام د دين او شريعت په پلي کولو کې هم بريالي شي. دا او د داسې نورو لاملونو له مخې وه، چې د اسلام د دين منونکيو ته د نه مقاتلې او نه دفاع امر راغلی و.

خو چې کله د شريعت د خپرولو سره يوځای مومنين د ځان ساتلو د دفاع کولو او دنياومن غبرگون ښودلو جوگه شول، بيا د فاع او مقاتلې امر هم راغلی، څو چې اسلامي ټولنه د دفاع او مقاتلې له ليارې لا پسې غښتلې او په نړۍ کې د نورو ملتونو سره سياله شي.

د تشدد او عدم تشدد د دغو او داسې نورو تاريخي پېښو په پام کې لرلو سره او بيا د شلمې پېړۍ تر نيمايي پورې، چې د هند پر ټوله نيمه وچه کې د انگليس استعماري ټولنه لا ديو ستر ځواک په څېر ځواکمنه وه او کولای شول د سيمې په هره څنډه کې هر مخالفت خوځښت په ډېره اسانه توگه وځبي او له منځه يوسي د داسې نمرودي او فرعوني ځواک په غېږه کې وه، چې يواځې په هماغه ابراهيمي او موسوي هوډ سره کيدلی شو د نوي ژوند، نوي پړاو ته د رسېدلو لپاره لکه څرنگه چې د لوی خدای ﷻ د کونيه وو چارو په تکوينيه اراده کې ځليدلې ده د نه تاوتريخوالي ((عدم تشدد)) لياره غوره شوې وای.

لکه چې په هماغه توگه هم د گاندهي جي او د باچاخان له خوا ولس ته د ښيرازه، آزاده او خپلواکه ژوند په لور د تگ لپاره يواځې پر همدې ټکي ټينگار وشو چې:

((*مور نه غواړو څوک ووژنو، او دا هم نه غواړو، چې څوک دې مونږ ووژني دا هېواد زمونږ هېواد دی بهرني غاصبان دې ووځي*))

دغه شعاري غوښتنه کټ مټ لکه هماغه شعار گڼل کېږي، کوم چې د حضرت محمد صلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله عليه وسلم پلويانو به کافرو قريشو ته ويلې چې:

((خداى يو دى او محمد يې استازى دى. موږ نه غواړو څوک ووژنو او دا هم نه غواړو، چې موږ دې څوک ووژني))

مگر د قريشو لخوا دغه انسانان د تريخو غبرگونونو سره مخامخ او د تشدد له مخې په شديده جزا چې وژل دي مجازت شول.

وگورئ د ((هابيل)) او د ((قابيل)) له زماني نه را په ديخوا د کړنو دوه خويونه لا تر اوسه پورې په واکمنه توگه په چلند کې پاتې دي د ((هابيل)) او د ((قابيل)) کيسه په کتابونو کې داسې راغلې ده: ((کله چې په لومړۍ ځل د آدم او حوا له پښته دوه تنه غبرگوني ماشومان وزيږېدل يو يې هلک و چې ((قابيل)) او بل يې جلۍ وه چې ((اقليما)) ونوميده.

په دوى پسې بيا دوه تنه غبرگوني ماشومان وزيږېدل، چې يو يې هلک و ((هابيل)) او بل يې جلۍ وه چې ((ليودا)) ونوميده، کله چې دغه دواړې غبرگونې ډلې د ځوانۍ د منگ کچې ته ورسيدلې د آدم عليه السلام له خوا ((اقليما)) د ((هابيل)) او ((ليودا)) د ((قابيل)) سره کوژده شول، دا چې ((اقليما)) ډېره ښکلې وه، نو له دې لامله ((قابيل)) له خپلې خور ((اقليما)) سره د ((هابيل)) د واده خبره ونه منله. آدم عليه السلام دواړو ورونو ته وويل: چې لوى خداى ته قرباني ورانديې کړئ. د هر چا قرباني چې د لوى خداى له لورې ومنله شوه هماغه دې له ((اقليمې)) سره واده وکړي. لوى خداى د ((هابيل)) قرباني ومنله، خو ((قابيل)) بيا هم قانع نه شو د تاو تريخوالي لاره يې ونيوله او ((هابيل)) يې سره له دې، چې هيڅکله هم کوم تريخ غبرگون نه و ښودلى و واژه او په دې توگه ((قابيل)) له خپلې خور ((اقليمې)) سره واده وکړ.

له دغې ورځې نه را په دېخوا په انساني ټولنه کې دوه متضاده کړنيزه خويونه دود شول. يو ((تشدد)) او بل ((عدم تشدد)) د عدم تشدد پلويان سوله، روغه او انصاف غواړي، خو د تشدد پلويان تل د زور، ځواک، ناخوالو، تريخ غبرگون او د ناانډولو دريځونو په غوره کولو سره خپلې غوښتنې پلي کوي او څه، چې د دود، دستور، قانون او انصاف له مخې نه شي تر لاسه کولى هغه د زور او ځواک له لارې لاسته راوړي.

د سولې، روغې، انصاف او نياومنۍ په پلوي د لوى خداى د استازيو له خوا هلې ځلې او ليار ښوونې شوي، خو د تشدد، بې انصافۍ، ناروا بلوسيدنو او ځورونو په پلوي يو اځې هماغه شيطاني ځواکونو هلې ځلې کړي، چې نومونه يې لا د انساني نړۍ د تاريخ په پاڼو کې تر اوسه پورې په پرله پسې توگه ليکل کېږي. داسې هر کله پېښه شوې چې د تشدد پلويانو په زور او ناروا توگه د بل چا شتمنۍ غصب کړي، خو د حق او عدالت پلويانو بيا د خپلو حقوقو په لاسته راوړلو کې د عدم تشدد له لارې پر غاصبانو برې موندلى دى.

وگورئ په کعبه کې شيطاني بتانو د زور او تشدد له لارې ځاى نيولى و، خو کله چې مکه معظمه د عدم تشدد د غوره شوي کړنو له مخې فتحه شوه، بيا نو بتان هم د کعبې شريفې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګړ څخه بهر وغورځول شول او مات شول.

د کعبې د بتانو د ماتولو له پېښې نه لا ډېر پخوا د نیل په رود کې د موسی علیه السلام او د فرعوني ځواک د پېښې پایلې وښودله، کله چې فرعون د تشدد د ښودلو په هوډ په موسی علیه السلام پسې، چې د نه تشدد او نه تاوتریخوالي د ښودلو په موخه له مصره د سینا په لوري په تېښته وتلی و ورغی د نیل په رود کې د موسوي د سولې روغې او نه تاوتریخوالي غورځنګ د زماني د تشدد او تاوتریخوالي پر ستر جګړه مار فرعوني ځواک بری وموند.

په همدې توګه د ابراهیم علیه السلام او د نمرود او ر په کیسه کې هم د عدم تشدد بې وزلې انسان د تشدد پر ستر ځواک بریالی شوی دی. وګورئ د نوح علیه السلام د ژوند په کیسه کې هم څنګه چې هغوی د سولې روغې او عدم تشدد په پلوی، پریوه خبره ټینګار دلورد چې: ((خدای یو دی او نوح یې استازی دی)) پر هغو ډلو ټپلو چې د زور، ځواک او تشدد د پلویانو او د نوح علیه السلام پر وینا و یې باور نه کاوه، د طوفان له څپو بریالي ووتل یعنې: په طوفان کې هغه کسان چې د تشدد پلویان وو تباه شول، خو د عدم تشدد پلویانو وکولی شول د نوح علیه السلام سره یوځای له طوفانه وژغوري.

په دې توګه په ډاګه ویلی شو، چې په شلمه پېړۍ کې د ګاندهي جي او د باچا خان غورځنګ یو سوله ایزه، حق غوښتونکی، خپلواکه او د عدم تشدد غورځنګ و دا او داسې نور غور ځنګونه لکه چې مو ولوستل هرکله او په هرځای کې دلوی خدای له لوري د منښت کچې ته رسېدلي او د برې د لوړ ځلي خاوند شوې هم دي. په دې لاره کې ګاندهي جي د هند د نیمې وچې د ټولو ولسونو دیو ستر لارښود په څېر چې لا تر اوسه پورې دیو سپېڅلي انسان په توګه لمانځل کېږي دلمانځلو حق هم ومومند.

دا ځکه چې د هغوی د عدم تشدد د غورځنګ د برې تر ځلې ورسید. انګریزان له هنده ووتل او هند دیوه ستر هېواد په توګه د ځمکې پر مخ وځلېد. نور نو پر هند باندې نه انګریزان واکمن دي او نه هم بیا د هند ولس د انګریزانو واکمنې ته غاړه ږدي.

د باچاخان د عدم تشدد د غورځنګ په هلو ځلو کې، چې لا تر اوسه پورې په سیمه کې د برې تر ځلي نه دی رسیدلی او له پښتون ولس څخه ملت نه دی جوړ شوی، څه د ناهیلۍ خبره نه شته، ځکه چې یو خو په دې لیاره کې لا هم هلې ځلې روانې دي او بل دا چې د تاریخ په اوږدو کې هم هرکله د ولس جوړونې، پالنې او روزنې غورځنګونه سل په سلو کې نه دي بریالي شوي. د مثال په توګه ورګورئ موسی علیه السلام چې هلې ځلې یې لا د لوی خدای پر سماسمو وحیو او لارښوونو پرله پسې پلې کیدلې د فرعون له مریي توب نه د آزادۍ او د نیل له رود څخه د پورې وتنې له بریالي ګامونو د وچتولو څخه پرته د بل کوم ستر ګام په پورته کولو نه دی پریالی شوی او د قرآنکریم د آیاتونو په شهادت په فلسطین کې د ((اریحا)) یا د ((اریشو)) د ښار په نیولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې هم د نبي اسراییلو له خوا له ملاتړه بې برخې پاتې شوی و.

یعنې موسی علیه السلام په خپل ژوند کې د خپل ولس لپاره دیو آزاد او خپلواک هېواد د ګټلو او جوړولو په کار کې ماتې خوړلې، خو د هغوی ځای نیونکی و، چې پوره څلوېښت کاله وروسته د خپل قوم په مرسته د ((اریحا)) یا د ((اریشو)) د ښار په لاندې کولو او نیولو په سیمه کې د آزاد او خپلواک هېواد په څښتن کېدلو سره جوخت له بني اسراییلو نه دیو غښتلي ملت په جوړولو کې بریالي شول.

دا چې هره هڅه کوم، چې د ولس د جوړونې، پالنې او روزنې په موخه را مینځته شوي وي، ارو مرو د بري تر ځلې رسیدلی شي، خو چې همغه هلې ځلې لا پسې پایښت ومومي.

دا ځکه چې د هلو ځلو د لړۍ پایښت، چې ارومرو تر موخې د منزل لنډونکی لامل دی باورونه غښتلي کوي، هوډونه د بري تر ځلې رسوي د هېوادوالو د منښت کچې ته له پیله تر پایه زیاتوالی ښېي د ولس په ژوند کې یو ښه سیاله، بنسټیزه بدلوونکی او ختون را منیځته کوي او په پایله کې د ولس د ژوند کاروان ته د سولې، روغې، نیکمرغۍ، هوسایینې او دنیا ومنۍ په واټونو کې د بریالي ګامونو په وچتولو کې پایښت لرونکی هوډ وربښي.

# غــــزل

## عمر دراز مروت

له ستا سپینې خولې چې ولې دا ترخې راوځي
ګنې چینې نه خو اکثر اوبه رڼې راوځي

له شرپسندو توقع د امن هسې کوې
بلاله کوم لور چې راځي نو له تیارې راوځي

د زړه دننه حال یې مه غواړه چې څوک دیاڅه
په ظاهره خو هو بهو دا فرښتې راوځي

ته په تر څو زمو‌ږ د وینو په خرڅ ژوند تیروې
زموږ له چم نه به تر کومه جنازې راوځي

غل خو معلوم دی چې له کومه له ځای راغلی
ګورو چې مل یې اوس له کومې دورازې راوځي

چې سترګې ټیټې کړې او وخاندې او ژغ ونکړې
له دې ادانه جانان ډېرې کیسې راوځي

د دې ګرانښت به وي کوم حد عمر دراز مروته
په هر تکلیف کې مې له خولې ژغ دادې راوځي

په دغو منل شویو او دود شویو لیارو کې د باچاخان د نه تاوتریخوالي غوره شوی هوډ د حق غوښتونکیو د کاروان د هلو ځلو غورځنګ د پایښت زړی به نن دی که سبا په سیمه کې بیا را

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرغون شي او ديو ښکلي پسرلي په خوږه هوا کې به گلان وسپړي.

بلبلې او توتيان به ديو موتي او خپلواک ولس د آزادۍ د نغمو او ترانو د خوږو آزانگو د خپراوې په موخه ډلې ډلې راشي او د سيمې د هسک په لمنو کې به هرې خواته په الوتلو د نړۍ والو غوږونو ته د ولس د نه تاو تريخوالي د پلويانو د برې د ترانو خوږې انگازې ورسوي د هغې ورځې په هيله!!!

مباز ((څاپي))
بُن، جرمني

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**